مورچل

دپټو دسیسو رسوایي، پټ حقایق رابرسېره کړل!!

څوارلسم کال، پنځمه، پرلپسې۱۴۱مه کنه،
شوال المکرم۱۴۴۱هـ ق، مۍ ۲۰۲۰م

د"فاتح ځواک"جهادي فلم ولې خپور شو ؟!

په اړه يې له ترتيب کوونکي او خپروونکي سره مرکه

- دستاورهای هجده ساله؛ حقیقت یا افسانه؟
- عرب امریکا ننکولی شي خو...!
- له مذهب پرته مهذب کېدل شوني دي ؟!

دعلماوو وژنه

دغليم مکاري حربې؟

مورچل

علمي، سياسي
او جهادي مياشتنی خپرونه

څوارلسم کال پنځمه، پرلپسې ۱۴۱مه گڼه،
شوال المکرم۱۴۴۱هـق مۍ ۲۰۲۰م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	راپورهای سازمان ملل در مورد تلفات ملکی حقیقت ندارد	۳
۳	دفاتح خواک جهادي فلم ولې خپور شو؟	۴
۴	داعش او د وزیر اکبر خان پر مسجد برید	۸
۵	دستاورهای هجده ساله حقیقت یا افسانه	۱۰
۶	د کورونا چور او چپاول او د آی ایم آیف پورونه	۱۲
۷	عرب امریکا ننګولی شي خو	۱۳
۸	حساسې شیبې او ناسم راپورونه	۱۷
۹	د علماوو وژنه د غلیم مکارې حربې !	۱۹
۱۰	ولې د بندیانو پر خلاصون ټینګار ؟!	۲۲
۱۱	په اسلام کې د ورزش او بدني پیاوړتیا ارزښت	۲۳
۱۲	له مذهب پرته مهذب کېدل شوني دي؟!	۲۵
۱۳	د شهید محمد معصوم قریشي ژوند لیک	۲۸
۱۴	شهید عبدالواحد "عکرمه"	۳۱
۱۵	په جهاد کې زموږ اخلاق ....نصرت او ملاتړ کول	۳۳
۱۶	د اسلام غزوات او سرایا	۳۸
۱۷	د مورچل دارالافتاء	۴۱
۱۹	جنګي جنایتونه (مې)	۴۳
۲۰	دمورچل وړمې	۴۶
۲۱	۲۰۲۰م کال د مې میاشتې جهادي خبرونه	۴۸

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتـــنپلاوی

ایـــوب صـــافی | حکـــــمت
معیـن احـــمد | حافـظ سعـید
حســـــن زوی | موسی فرهـــاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

د پټو دسيسو رسوايي، پټ حقايق رابرسېره کړل!!

رښتيا هم چې د دروغو منزل لنډ وي، په ډېره لويه پيمانه، په ډېرو لوړو لګښتونو او په ډېره لوړه (نړيواله) سويه هڅې وشوې چې داشغال دمشروعيت لپاره حقايق او واقعيتونه ترخاورو لاندې شي، خو دا چې دغه مسير له واقعيتونو په کړه و، نو پای يې هم د هدف معکوسه نتيجه ورکړه او دکلونو خواری يې په اوبو لاهو شوې . الحمدلله !

په افغانستان کې دلويديځ له نظامي يرغل سره په يو محاذ او همدومره پاملرنه پټې دسيسې، تبليغات، جعلکاری، دتجزيې هڅې،تورونه، دروغو، دوه مخی او دواقعيتونو دبدلولو دومره پلانونه په لاره اچول شوي وو چې نړدې وه دپاخه عقل اوفکر خاوندان يې په منلو اړ شوي وای، دکشرانو اودهغو ذهنيتونو خو به څه وايي چې له سابقې په ناخبری په ميدان ورګډ دي ...

داچې داشغال مقابله او دهيواد دخپلواکی مبارزه داسلام په پاخه اساس او هيوادنی مينې په اخلاص بنا ده؛ همدالامل دی چې وخت په وخت دښمن ذليله او رسواشوی او په همدومره سويه پټې دسيسې يې الله تعالی رسوا کړې دي، په دې وروستيوکې داسلامي امارت له لوري په لوګر ولايت کې د دوو تنو داعشي فتنه ګرو نيول له هغوی سره نيول شوي اسناد او تحقيقات د دغې رسوايی هغه ببلګه ده چې ډېر پټ حقايق ورسره رابرسېره شول .

سره له دې چې شنونکو،دفن متخصصينو او پوهانو نه يواځې داچې له خپرو شويو اسنادومخ نه دی اړولی، بلکې دډېرو نوروموادو دترلاسه کېدو خبره يې هم کړې، خو مونږ په هغه څه له نيول شويو اسنادوخبره کووچې له نړدې ليدل شوي ، کتل شوي او له خپرو شويو اسنادو په څو برابره زيات دي .

روزل شويو غلامانو دخپلې ناروا بقالپاره په څومره مهارت اوفريب خپل پلانونه د داعش په نامه او دداعش له لارې ترسره کړي، په څومره مکاری يې د ولس او قوم له پاکو نومونو

غولوونکې لوحې، دفتر ونه اودتخریب اډې جوړې کړې دي، په څومره واضح ډول د داعش حقیقت پکې څرګند شوی ؟!!

دا ټول هغه څه دي چې داسلامي امارت مدعا، دمبارزې د تېرې او روانې دورې ټول اړخونه سپینوي او هغه حقایق رابرسېره کوي چې د دغو مکارو هڅو په اثر له ډېرو خلکو پټ وو، په واضح ډول ښکاره شوه چې په افغانستان کې د داعش فتنه دچاپروژه ده، څوک یې تمویلوي؟ په هیواد کې بې ګناه خلک، دفکر اوقلم خاوندان څوک وژني ؟ دپوهې اوعلم خاوندان او سیاسي څېرې څوک په مرګ تهدیدوي اوله هیواده یې تېښتې ته مجبوروي؟ څوک په هیواد کې سوله غواړي او څوک یې په وړاندې خنډونه رامنځته کوي ؟ تردې چې دخپلو بادارانو په دیپلوماتانو یې هم دترور پلانونه جوړ کړل!

حقیقت دادی چې په دوحه کې داشغال دخاتمې ترون لکه څومره چې داسلامي امارت په بری اوحقانیت او د اشغالګرو په ماته اوناکامۍ نړیوال دلیل شو، ترهغو په څوبرابره زیات یې دلته پاته شونې اوغلامان وارخطا اوله هرډول سیاسي اونظامي ناکامیو سره مخ کړل، ځکه یې ورځ تربلې پښې ښوېږي او وخت په وخت یې دبقا دغه ډول ناکامې هڅې رسواکېږي .

همدا داسلامي امارت دولسي استازیتوب دثبوت لپاره بس دي چې له اسلامي امارت سره یې اوړه په اوړه اشغال او داشغال ټپلي فکرونه او عقیدې ردکړې، یواځې اویواځې یې داسلامي نظام دحاکمیت لپاره دومره سترې قربانۍ ومنلې .

دوخت په تېرېدو سره به لاهم داسلامي امارت دمدعا، مبارزې، له خپل دین اوهیواد سره دمیني حقانیت ښکاره کېږي او منکرین به یې په منلو مجبور وي .

راپورهای سازمان ملل در مورد حملات بر مراکز صحی و از اداره کابل
در مورد تلفات ملکی، حقیقت ندارد

از سوی سازمان ملل متحد راپوری در مورد حملات بر مراکز صحی پخش شده، که دران ادعا شده است از سوی مجاهدین امارت اسلامی در هشت (۸) جا بر مراکز صحی حملات شده است. ما این ادعا و راپور را دقیق نمی دانیم، بسیار واضح است که مراکز صحی از سوی طیارات اداره کابل بمبارد می شوند. در ماه گذشته، مراکز صحی در غزنی و ولسوالی های چهاردره، امام صاحب و خان آباد ولایت قندوز به گونه قصدی بمبارد شدند، اسباب و آلات صحی از بین برده شد و مردم ملکی نیز شهید و زخمی شدند. از سوی امارت اسلامی در هیچ جا بر کدام مرکز صحی حمله نشده، بلکه مراکز صحی محافظت شده و هنوز هم درین بخش توجه می کنیم.

از سوی دیگر، امروز به اصطلاح شورای امنیت اداره کابل ادعا کرده است که در یک هفته گذشته ۲۴ نفر ملکی در حملات مجاهدین امارت اسلامی شهید و ۱۰۵ تن دیگر زخمی شده اند.

ما این پروپاگند را نیز به جدیت رد می کنیم. مردم ملکی از سوی عساکر اداره کابل به گونه ارادی مورد حملات قرار می گیرند، که ما وقت به وقت راپورهای مستند و حتی ویدیوهای آن را هم نشر کرده ایم. عساکر اداره کابل قریه ها و دهات را بمباردمان می کنند و میزایل می زنند و اربکی ها مردم را قصدا شکنجه می کنند و به شهادت می رسانند.

یک نمونه حملات دشمن مزدور بر مردم و تاسیسات ملکی، تخریب قصدی ۲۰۰ دکان، ۱۳ کانتینر، ۸ دواخانه و ۱ پمپ در منطقه مهاجر بازار ولسوالی گرشک ولایت هلمند به تاریخ ۲۴ جوزا است، که مردم را با ملیون ها افغانی زیان های مالی مواجه ساخت.

ذبیح الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی

۱۴۴۱/۲۹/۱۰هـ ق

۱۳۹۹/۴/۱هـ ش ــ ۲۱/۶/۲۰۲۰م

د"فاتح ځواک" جهادي فلم ولې خپور شو ؟!

زمونږ افتخارات نوروته منسوبول له خاورې او ولس سره جفا ده!

د (فاتح ځواک) له ترتیب کوونکي او خپروونکي سره مرکه

داچې په دې وروستیوکې د افغانستان اسلامي امارت دفرهنګي کمیسیون د سمعي او بصري څانګې له لورې د " فاتح ځواک" په نامه په زړه پورې دجهادي تمریناتو اوفوق العاده محاربوي تجهیزاتو رسم ګذشت فلم په حساسو شېبو کې نشر شو ، دسیمې او نړۍ په مطبوعاتوکې يې پراخ انعکاس رامنځته کړ، دغه ارزښت په کتو مو دالهجرت ستوډیوله مسؤل اودفاتح ځواک دجهادي فلم له ترتیب کوونکي محترم مولوي صاحب ثابت احمد سره مرکه کړې، هیله ده دلوستونکو دپام وړ شي .

مورچل :لومړی به ستاسو د پېژندنې او معرفت پوښتنه راوړاندې کړو ؟

ځواب : همدا به کفایت کوي چې په لنډ ډول ووایم نوم مې مولوي ثابت احمد د الهجرة ستوډیو مسؤول .

مورچل : د فاتح ځواک د اصدار نشرولو هدف څه دی؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم ، الحمدلله والصلواة والسلام علی رسول الله و علی من تبعهم ومن والاه وبعد :

د مورچل مجلې محترم مدیره هیئت ټولو محترموکار کوونکو او درنو لوستونکو ته :

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دا چې ماته مو د مرکې موقع راکړه نو ډیر خوشحال شوم له تاسې څخه ډیره مننه کوم ،د مورچل مجلې خدمتونه ډیر د ستاینې او تقدیر وړ دي،په ځانګړې توګه د افغانستان د اسلامي امارت په مشرۍ د کفري نړۍ د اشغال او فساد پر خلاف د افغانانو د مبارزې له برحقې داعیې څخه د اسلامي نړۍ په آګاه کولو کې، الله دې تاسو ته د لا مزیدو خدمتونو توفیق درکړي .

د فاتح خواک له نشرولو څخه زموږ هدف دښمن ته د اسلامي امارت د پوځي قوت د نظم، زور او جنګي مهارتونو ښودنه وه ترڅو د اسلامي امارت پر ضد د خپلو شومو دسیسو له سختو عواقبو څخه وویربړي، مرعوب او تړې منصرف شي .

همدغه راز د اسلامي امارت دپوځي خواک له بیداري او چمتوالي څخه خپل ولس ته ډاډ ورکول د فاتح خوا ک له نشرولو څخه یوبل هدف ؤ .

مورچل : د یاد فلم اصلي مخاطب لوری څوک دی؟ امریکایان ، د کابل ریژم او که عام مجاهد ولس؟

ځواب : د فاتح خواک (۱) د اصدار مخاطب هغه څوک دي چې فکر کوي اسلامي امارت به د مذاکراتو او سیاست په مټ له خپلو جهادي چارو (تر څو چې یو شرعي مکلفیت وي)او د خپل نظامي خواک له تقویې څخه اغفال کړي او یا به اغفال شي او یو خل بیا به په اسلامي نړۍ کې له یو تجربه شوي تکتیک څخه د خپلو شومو موخو د لاسته راوړلو لپاره کار واخلي . همدارنګه د دې اصدار بل مخاطب هغه څوک وو چې داسلامي امارت پر ضد دخپلې روانې جګړې د اغیزو ناسمې محاسبې په ګمراهۍ کې واقع کړي دي او په دې ورستیو کې یې د دروغجنو افواهاتو خپرولو او ډنډورو ته زور ورکړی دی، همدغه راز د اسلامي امارت مجاهدین او مجاهد افغان ولس هم د دې اصدارمخاطب وو ترڅو دوی ته د دښمنانو د دسیسو پر وړاندې د اسلامي امارت د رهبري او پوځي جهادي خواک له بیداري او چمتوالي څخه ډاډ حاصل شي .

مورچل : په دغه حساسه زماني مقطع کې چې اسلامي امارت له اشغالګرو امریکایانو سره د سولې ټرون لاسلیک کړی دی، دغه ډول په فوق العاده محاربوي تجهیزاتو مجهز نمایش او رسم ګذشت څه پیغام لري ؟

ځواب :پیغام یې واضح دی، د اسلامي امارت د تشکیلاتو د بیلابیلو برخو ترمنځ ټینګه هماهنګي، د خپل پوځي خواک تقویې ته ژمنتیا، د دښمنانو د شومو دسیسو او پلانونو خنثی کولو ته بیداري او چمتوالی او د دښمن د روانې جګړې بې اغیزې توب د دې اصدار له عمده پیغامونو څخه و.

مورچل : د یاد اصدار خپراوي په نړیوالو او محلي رسنیو کې د پراخ انعکاس ترڅنګ له یوشمیر نظامي ماهرینو سره د مجاهدینو د پوځي روزونکو په اړه پوښتنې راپورته کړې، که تاسو د همدې روزنکو د هویت په اړه څه رڼا واچوئ!

ځواب : زه د اسلامي امارت په ډیرو معسکرونو ګرځیدلی یم، له نږدې څخه مې هر څه مشاهده کړي دي او له مسؤلینو او استادانو سره یې بلدیت لرم تراوسه زما کوم بهرنی استاد نه دی تر سترګو شوی، په

فاتح خواک کې نشر شوی رسم ګذشت او پوخي تمرینات چې په الفاتح معسکر کې موترسره کول هلته حاضر ټول استادان یې افغانان وو او ډیر تکړه او تجربه لرونکي استادان وو، خبره داده چې افغانان له اشغالګرو او د دوی له غلامانو سره د جنګ اوږده تجربه لري، د عسکري روزنې په اهمیت پوهیږي، ماته معلومات دی چې ډیر ورزیده کدرونه په دې برخه کې روزل شوي او موجود دي، نه د پردیو روزنې ته محتاج دي او نه یې روزنکو ته ، الحمد لله ترڅومره چې ما مشاهده کړې ده اسلامي امارت د عسکري اعداد په برخه کې ډیر وړاندې تللی دی، ډیره زیاته توجه ورته لري او ډیر زیات کدرونه یې په دې برخه کې روزلي دي .

مورچل : د یاد اصدار له خپراوي سره هم مهاله داسلامي امارت او کابل رژیم ترمنځ د بندیانو تبادله روانه ده د دغو زرګونو مجاهدینو خلاصیدل په دغه ډول جهادي روحیاتو څه اغیز لرلی شي ؟

ځواب : زه به داخبره وکړم چې مجاهدبندیان چا د کوم احسان له مخې نه دي آزاد کړي، د اسلامي امارت د مجاهدینو د قربانیو اوسرښندنو په برکت او د خپل مظلومیت له وجې لوی الله جل جلاله آزاد کړي دي، کله چې د یوچا قرباني اوسرښندنه نتیجه ورکوي حتماً یې روحیه ورسره لوړیږي . د بندیانو خلاصون د اسلامي امارت د مجاهدینوپه ځانګړې توګه په تدریب د بوختو مجاهدینو روحیه ډیره لوړه کړې وه او د الله په لاره کې یې سرښندنو ته جذبات اواحساسات ډیر زیات لوړ شوي وو .

مورچل : په کوم معسکر کې چې تاسو تړې د فاتح خواک په نوم جهادي اصدار ترتیب کړی دی کوم ډول جنګي مهارتونه مجاهدینوته ورښودل کیږي ؟

ځواب : په دې معسکر کې په اسلحه ، استحکام او متفجراتو ،تکتیک ،امن اواستخبارات ،اولیه طبي مرستو ،فکري، شرعي، ساینسي علومو اونورو برخوکې عمومي اواختصاصي زده کړې مجاهدینو او استشهادیانو ته ورکول کیږي .

(۷) پوښتنه : په یوشمیر تبلیغاتي رسنیو کې ځینې کړې دا تبلیغات کوي چې د اسلامي امارت پوځي معسکرات له پولې څخه بهر شتون لري او تسلیحات یې هم د ګاونډیو هیوادنو لخوا ترسره کیږي، ستاسو غبرګون په دې اړه څه دی؟

ځواب : دښمن او دغه مغرضې کړې خپله اعتراف کوي چې د افغانستان له پنځوس سلنې څخه زیاته خاوره د اسلامي امارت د مجاهدینو تر واک او اثر لاندې ده، کله چې موټر پنځوس فیصده خاوره ترخپل واک او اثر لاندې ولرو نو بیا به ګاونډیو هیوادونو او د دوی خاورې ته څه ضرورت ولرو؟! دوی دا ډول تبلیغات د پردیو په اشاره د افغانانود افتخاراتو د داغداره کولو او نورو ته یې د منسبولوپه موخه ترسره کوي، دوی ته له تبلیغاتو پرته بل څه نه دي ورپاتې، لانور هم یو څه وخت ته ضرورت شته ترڅو دوی داسې ترخه حقائق تسلیم کړي او ویې منې .

مورچل : د فاتح خواک د اصدار له خپراوي سره هم زمان ملل متحد یو راپور خپور کړ او په هغه کې یې د هیواد په داخل کې د بهرنیو مجاهدینو او د هغوی د پوځي معسکراتو په اړه خبرې لرلې ستاسې وضاحت په دې اړه څه ده ؟

ځواب : مونږ نه پوهیږو چې ملل متحد په افغانستان کې داطلاعاتو د راټولولپاره څه ډول میکانیزم لري ؟ زما په فکر په راپور کې چې کومې سرچینې دوی ذکرکړې دي که یوځوک عقل اومنطق ولري او له مسلکي پلوه دغه راپور تحلیل کړي، هیڅکله باور نشي پرې کولای، دوی د نویو ډلو په اړه پخپل راپور کې داسې ادبیات کارولي دي چې نه د اسلامي امارت له ادبیاتوسره سمون لري او نه د افغانستان له پوځي او سیاسي ادبیاتو سره .

تر څومره چې زه معلومات لرم او ما ته د نظامي مسؤولینو سره په ناسته ولاړه کې معلومه شوې ده، اسلامي امارت خپلو تعهداتو ته په ټینګه ژمن دی، هرڅه یې په کنټرول کې دي، په افغانستان کې د بهرنیو مجاهدینو هیڅ ډول پوځي معسکر وجود نه لري او که درلودلای یې دوی به یې په راپور کې کوم ثبوت وړاندې کړی وۀ، داسې ښکاري چې اصلاً دا راپور د کابل د اداري د ملي امنیت په ریاست کې د ځینو بهرنیو مغرضو استخباراتي سازمانونو په ملتیا د یوناما د دفتر هغه کارکوونکو لیکلی دی چې تیرې دوه لسیزې یې اشغالګرواو د دوی غلامانوته د یوناما تر چتر لاندې جاسوسي ترسره کړې ده، د افغانستان د ولس په قتل عام او ډیرو فتنواو بدبختیو کې لاس لري، د امریکایانو او د دوی د غلامانو په بشر-بورنوونکو جنایاتو یې تل پرده اچولې اوتوجیه کړي یې دي، د مذاکراتو له لارې د مسایلو په حل کې دوی خپلې شخصي ګټې په خطرکې ویني د انصاف غوښتنه خو داده چې ملل متحد باید د اشغال د خاتمې د توافقنامې څخه د دواړو لورو سرغړونې په خپل راپور کې له شواهدو سره په ګوته کړي وای او د توافقنامې په عملي کولو کې یې د دواړو لورو د وړتیا مثبت او منفي ټکو ته اشاره کړې وای، متأسفانه ملل متحد په خپل راپور کې نه د امریکایانو د سیاسیونو او نظامیانو ترمنځ توپیرونو ته اشاره کړې ده، نه یې په کابل کې موجودو نه پیوندکیدونکو درزنو ته اونه د کابل د ادارې په سر کې دسولې ضد کړیو راتګ ته، داسې دروغجن راپورنه اسلامي امارت ته هیڅ صدمه نشي رسولای، خپله د ملل متحد اعتبار ته سخته صدمه رسوي، تاسو به لیدلي وي چې ډیرو هیوادنو او زمور د هیواد مطرحو شخصیتونو او کارپوهانو دغه راپور تر سختو پوښتنو لاندې راوست او په یوه مسخره بدل شو .

مورچل : له مرکې نه مو مننه .

ځواب : له تاسو نه هم مننه کوم چې پرمونږ مو حال واخیست .

حبیب مجاهد

داعش او د وزیر اکبر خان پر مسجد برید

د کابل وزیر اکبر خان سیمه په دیپلوماتیکه ساحه یا گرین زون شهرت لري. په دې ساحه کې هره دوهمه وداني د کوم خارجي هیواد سفارت، د کومې خارجي NGO مرکز، د بهرنیانو کومه شکمنه اطلاعاتي یا استخباراتي ځاله او دې ته ورته مرکزونه دي. په دې حساب په یاده ساحه کې د کفري هیوادونو سره اړوند ګڼ شمیر مراکز شتون لري، له همدې امله خو یې په دیر جدیت ساتنه کیږي او عام خلک دې ساحې ته په دیره سختۍ داخلیدلای شي. په وزیر اکبر خان سیمه کې د بهرنیو اشغالګرو د ځالو سره سره یوه داسې وداني هم شته چې هغه د اسلام نښه او د (شعائر الله) له جملې ګڼل کیږي. هغه د وزیر اکبر خان تاریخي جامع مسجد دی. دا مسجد د سفارتونو، ایښ جې او ګانو، تبلیغاتي او استخباراتي ادارو په دې ساحه کې د اسلام د داعي په حیث ولاړ دی او پنځه وخته ترې د ایمان، تکبیر او وحدانیت ملکوتي انګازې راپورته کیږي.

خو اوس راشئ د داعش کردار ته، دغه ډله چې ځان ته مسلمان هم وایي، د خلافت او تش په نامه جهاد دعوه هم کوي. په وزیر اکبر خان کې د کفر له ټولو ځالو راتیریږي. هلته د بهرنیو اشغالګرو په شتون او ګشت و ګذار سترګې پټوي، راځي او په دې ساحه کې په یوازینۍ مقدسه وداني (جامع مسجد) برید کوي او د مسجد عالم او فاضل ملا امام مولوي محمد ایاز نیازی په یو نامرده برید کې په شهادت رسوي.

دغه صحنه مونږ ته د داعش په اړه یو ږون حقیقت په لاس راکوي. که داعش د ننګرهار په هسکه مینه کې په مسجد برید کوي او ٦٠ تنه رب ته قیام ولاړ مؤمنان په شهادت رسوي. خو شاید استدلال وکړي چې په دې سیمه کې

کفار شنون نه لري نو څکه يې په مسلمانانو خپله د قساوت تنده ماته کړ ې ده. اما که د وزير اکبر خان ساحې په شان سيمه وکتل شي، هلته خو اکثره د بهرنيانو مراکز دي. خو داعش هلته هم له کفارو څخه خپل د تويک ميل اروي او د مسلمان سيني ته يې سيخوي. له استخباراتي خالي څخه پر څنګ تيريږي او مسجد هدف ګرځوي. له دې څخه له شک پرته معلوميږي چې داعشيان په واقعي معنی د دې زمانې خوارج دي. څکه د خوارجو تر ټولو بارزه نښه رسول الله صلی الله عليه وسلم دا بيان کړې ده چې (يَقْتُلُونَ أَهْلَ الْإِسْلَامِ وَيَدَعُونَ أَهْلَ الْأَوْثَانِ ، لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ عَادٍ) دوی به مسلمانان په قتل رسوي او بت پرستان (کافران) به پريږدي. خو که ما ته په لاس راغلل نو ضرور به يې د قوم عاد په شان قتل کړم.

که هسې د عقل او تجربې له نظره ورته وګورو هم په شعائر الله(مسجدونو) بريدونه د واقعي مسلمانانو لخوا نه کيږي، بلکې د اسلام دښمنان د مسلمانانو په عبادتخانو بريدونه کوي. په هند کې په بابري مسجد برید د هندوانو لخوا ترسره شوه. په فلسطين کې په مسجد اقصی بيا بيا بريدونه يهودو ترسره کړل. په نيو زيلند کې د مسلمانانو په مسجد برید د يوه عيسوي صليبي قاتل لخوا ترسره شول. او اوس چې داعش نه يوازې په مساجدو بريدونه کوي، لمونځ کوونکي او علماء وژني، دې نتيجې ته مو رسوی چې دې ډلې هسې په خپل بيرغ کې د اسلام کلمه ليکلې ده. د دوی ټول کارونه د اسلام د دښمنانو دي او داسې معلوميږي چې اصلي مزی او کنترول يې د پردې تر شا د اسلام د سخت ترينو دښمنانو په لاس کې دی. هغوی يې په مساجدو او مسلمانانو بريدونو ته هڅوي او د شعائر الله سپکاوی وربانډ کوي.

هغه څوک چې لا هم داعش ډلې ته د اسلامي ډلې په نظر ګوري، بايد دا غرونه غرونه حقائق او شواهد په دقيق نظر وګوري. هغه ډله چې په شام او نورو سيمو کې يې د بريا پر پوله ولاړ متحد جهاد خوځښت پر ملا مات کړ، زرګونه د حق د لارې پاک مجاهدين يې په شهادت ورسول. نړی په ګوټ ګوټ کې يې په جهادي محاذونو او متحدو جبهاتو کې د نفاق اوروند بل کړل. پر افغانستان کې يې د اسلامي امارت د ټولمنلي صف په وړاندې بغاوت پيل کړ، دغه راز يې په خپلو وحشتناکو کړنو سره د جهاد او اسلام د بدرنګه کولو هڅه وکړه، له خپلو محدودو پلويانو پرته يې په ټول اسلامي امت د کفر فتوی وکړه، دغه فسادګره ډله چې د نړی هيڅ معتبر عالم، هيڅ مدرسې او علمي او فکري منبع يې تائيد نه دی کړی، بلکې ټول اهل اسلام ورته د شک او دښمنی په نظر ګوري. له دغسې استخباراتي ماهيت لرونکي ډلګی څخه هيڅکله د اسلام تمه نه شي کيدلای. دغسې ډلې په اسلامي تاريخ کې پخوا هم د خوارجو، قرامطه او باطنيه په نومونو راغلې چې لنډه موده يې د خپل وحشت نندارې وړاندې کړې او وروسته له منځه تللې دي.

نو بناء د دې لپاره چې شعائر الله مو له بريدونو او توهين څخه خوندي وي او د کفارو پټ لاسونه مو قطع کړي وي. بايد د داعش، داعشي- فکر، داعشي نظريات او هر هغه فعاليت پر ضد په کلکه مبارزه وکړو چې د دغې ډلې د بقا سبب کيږي. په مسجد، مدرسه، مکتب، مجالسو او غونډو کې بايد داعش خپلو څوانانو او عام ولس ته ورمعرفي کړو چې دا د عصر خوارج او د اسلام سخت ترين دښمنان دي نو څکه بايد څان ترې وساتي.



دستاوردهای هجده ساله؛ حقیقت یا افسانه؟

حبیبی سمنگانی

با آمد آمد طالبان، موج های تازه ای از تبلیغات در رسانه های برقی و چاپی به راه انداخته شده است. در حالی که تاریخ در آستانه تکرار قرار دارد، بعضی لیبرالان و سیکولاران، که از نام اسلام و مسلمان بیزار اند، واویلا دارند به هیچ آن معامله ای تن نمی دهند که به قربانی دستاوردهای هجده ساله ما، تمام شود. به باور عمومی افغان های دردمند، صلح و آرامش اهم ترین نیاز امروزی افغان ها است. اما از نگاه دموکراتان؛ زنان باید به هیچ دلیلی دوباره چادر سر نکنند.

جریانات و رویدادهای اخیر، همه دار و ندار لیبرالان و سیکولاران افغانی را برملا ساخت. آنانی که اندکی سرمایه فکر و بینش داشتند، بر ناکامی خود اعتراف کردند و دیگران را به بازنگری روش خود فراخواندند، تا دریابند که چه مشکلی پیش آمد، و از کجا شکست خوردند. اما بیشتر این سیکولاران کسانی اند که با دولت فکر و بینش کاری ندارند، آن ها یا محو شعار اند و یا هم خمار.

این مدعیان لیبرالیسم و سیکولاریسم، همه داد و فغان شان از بی وفایی جهان غرب به ویژه امریکا است. گویا آن ها می روند و دستاوردهای هجده ساله ایشان را در معامله با طالبان، به باج می دهند. بزرگ ترین شغل ایشان حالا بدگویی، طعنه زنی و دشنام دادن به پدر معنوی شان امریکا است، گویا امریکا با سرنوشت ایشان بازی می کند.

اما سوال اینست که آن دستاوردهای هجده ساله بالاخره چیست، که ایشان آن را ورد زبان و تریاک عراق ساخته اند، این دستاوردها را اگر از یک افغان عادی بپرسید، بی درنگ برای تان ساده تعریف می کند : بی دینی، فحاشی و برهنگی. اما از نگاه یک زن سیکولار؛ معنای این دستاوردها اینست که ما به عقب نخواهیم برگشت، یعنی «دیگر آن دختران هجده ساله نیستیم که سه چادری را کهنه کنیم و در تاریکی زندگی کنیم». اینست فشرده دستاوردهای هجده ساله از دید سیکولاران.

سیکولاران افغان به این می بالند که جاده مختلف یا منحرفی را در جامعه عنعنوی و سنتی افغان انتخاب کرده اند. اما مشکل ایشان اینست که می خواهند، تمام جمعیت چهل ملیونی افغان را نیز از مسیر اصلی شان منحرف و دنباله رو خود سازند. در هجده یا نزده سال گذشته، با دریافت ملیاردها دالر کمک های مختلف النوع، و با یورش بی پیشینه فرهنگی، اگر ایشان نتوانستند به اهداف شوم شان در افغانستان برسند، پس ملامت کیست، افغان ها، امریکایی ها یا خود این سیکولاران؟

این تنها موضوع حجاب و روسری نیست، سیکولاران افغان در سائر عرصه های زندگی، اقلیت کوچکی هستند. اما چنان وانمود می

سازند گویا ایشان اند که صدای حق و حق خواهی بلند کرده اند و یا از قشرهای مختلف جامعه نمایندگی می کنند. سوال اینست هرگاه بیش از ۹۰٪ زنان با حجاب و با عفت افغان از اقلیت انگشت شمار بی حجابان نمایندگی نمی توانند، ایشان چطور می توانند از آن قشر عظیم نمایندگی کنند ؟ این سند نمایندگی را ایشان از کجا به دست آورده اند؟

جامعه غربی و غلامان فکری شان، ارزشهای دینی و فرهنگ و کلتور ملی افغان ها را در هجده سال گذشته، به گونه منظم مورد تاخت و تاز قرار دادند. در اوائل اشغال امریکایی، حتی کسی نبود که در برابر امواج تند این تهاجم بی شرمانه و ننگین دشمنان اسلام ایستادگی بکند و صدای بلند بکند. البته، این پایداری و نیرومندی فرهنگ و کلتور جامعه مسلمان افغانستان بود، که شکست را نپذیرفت و همانند کوه پولادین به پا و استوار ماند.

اما امروز که اندکی باد مخالف وزید، این سیکولاران افغان، سرگشته و سراسیمه شده اند و گویا دستاوردهای هجده ساله شان، همانند برگ های خزان زده و رنگ زرد، از هم فرو می پاشند و به زمین می افتند. در حالی که هنوز هم تمام امکانات مادی و ماشین های تبلیغاتی نظام استعماری، با همه فراوانی اش، در خدمت ایشان است.

چنان پنداشته می شد که سیکولاران افغان با داشته ها و تجربه های تقریبا دو دهه شان، شاید مردانه وار یا زنانه وار مقاومت کنند و از خود قربانی های به نمایش بگذارند، اما غوغای روز افزون ایشان بیان گر اینست که، جز وابستگی و دلبستگی به آقایان غربی شان، دیگر سلاحی ندارند. آنانی که از ایشان امید مقاومت داشتند، نا امید شده اند.

اگر از دستاوردهای هجده ساله بگذریم، چیزی دیگری که از دست سیکولران افغان رسوا شد، واژه سیکولار است. دانشمندان سیکولار جهان، خود را چنان نشان می دهند که اگر حامی دین نیستند، مخالف آن هم نیستند، گویا با دین و مذهب چندان کاری ندارند. اما سیکولران افغانی ما عجب مخلوقی اند، گاهی خوش شان آید ؛ کار تعبیر و تفسیر دین را به پیش می برند (در حالی که حقیقتا مشغول تحریف آن می باشند) و گاهی دیگر ؛ حیران و سرگردان می باشند که ارزش های دینی را چطور نیست و نابود کنند. این سیکولران جامعه ما هم عالمان دین اند و هم مخالفان دین!!

انصاف این بود که هرگاه بزرگان و سخنگویان طالبان مکررا گفتند که برای نظام مستقل و همه شمول اسلامی آماده هستیم با سائر اقشار و جهت های افغانی وارد گفتگو شویم و به حل واقعی و دیرپا نائل گردیم، باید قشر سیکولار جامعه، در حالی که در گذشته جنایات سنگینی را مرتکب شده بودند، از همه اولتر، این پیشنهاد معقول طالبان را استقبال می کردند و از این فرصت طلایی برای تعیین سرنوشت افغانستان استفاده می کردند، اما چنان معلوم می شود گویا ایشان اصلا تاب شنیدن «نظام اسلامی» را ندارند.

روش سیکولاران افغان نشان می دهد که ایشان از خود ابتکاری ندارند، بلکه از همان اول، همه دار و ندار فکری و معنوی شان را به امریکایی ها سپرده اند. حالا هر چه امریکایی ها تصمیم گرفتند، ایشان مجال چون و چرایی ندارند. پس این سر و صدا چه معنایی دارد؟ کمی حوصله کنید!

دکورونا چور او چپاول

او د ای ایم ایف پوروونه!!؟

م-مبصر

پر افغانستان د امریکا په مشرۍ د لوبدیځ له یرغل راهیسې د افغانانو پر سر د حاکمانو په حیث هغه څوک تپل شوي چې ماضي یې له فساد، جرایمو او بېلابېلو ناروا وو ډکه ده. دې خلکو افغان ولس ته د خپلې ماضي له املې مخ نه درلود، خو د اشغال له برکته یې آرګاه او بارګاه ترلاسه کړه او نن خانونه د افغانانو واقعي نمایندګان ګڼي.

له دین، هېواد او ولس سره د دې څېرو د خیانتونو او جفاوو په اوږده لیست کې یو هم د افغانانو په حق کې حیف ومیل دی. د افغانستان تر اشغال وروسته سلګونه میلیارده ډالر افغانستان ته د مرستې په نوم راغلل، خو دې هر څه بیا هم افغانستان او افغانان په پښو څکه ونه درول چې پیسې د افغانانو پرځای د هغوی پر سر د تپل شویو حاکمانو جېبونو ته تللې دي.

په دې وروستیو کې چې هېوادوال د کورونا ویروس له املې له مصیبت او بحران سره مخ دي، سلګونه میلیارده ډالر بیا افغانستان ته د مرستې په نوم ورکول شوي دي - اما تېر وخت ته په کتلو هیڅ افغان باوري نه دی چې پیسې دې د هېواد او ولس په ګټه ولګول شي.

یو هغه څه چې دا نظریه تقویه کوي همدا ده چې په سلګونو میلیونو ډالرو کې غریبو افغانانو ته یوازې څو ډوډۍ او څلور کیلو غنم رسېدلي، د نورو مرستو هیڅ درک نه لګیږي.

د مرستو خبره یې پرخپل ځای، اوس کابل رژیم د افغانانو په نوم د پیسو له نړیوال صندوقه شاوخوا ۲۲۰ میلیونه ډالر پور اخلي. د افغانانو د یوه نماینده او هېواد او ولس ته د یوه متعهد حکومت په شتون کې به د اړتیا په صورت کې د داسې ډول پور اخیستلو کومه مضایقه نه درلوده، خو له بده مرغه دا پیسې به اوس یا د کابل اداري د چارواکو شخصي جېبونو ته ولاړې شي او یا به هم د څلورنیم کیلو غنمو د وېش او له روغتیایي خدماتو د تشو روغتونونو جوړولو په څېر په بېځایه، بېګټې پروژو کې دوړه شي - داسې چې پیسې به مصرف شي، خو د خلکو سترګې به یې د ګټې په لیدلو مړې نه شي.

یو هېواد خپلې خاورې او ولس ته د متعهد، مستقل او مقتدر نظام په وجود کې په خپلو پښو دریږي، نه د کابل اداري په څېر د شخصي ګټو پر بنسټ د جوړې، بلواکې او فاسدې اداري لخوا. څومره ژر چې د افغانانو د خپلمنځي تفاهم له لارې یو ټولشموله، مستقل او دین وخاورې ته متعهد نظام په هېواد حاکمیږي، هغومره ژر به د خدای پاک په فضل له هېواده د بدبختیو تغر ورټولیږي.

عرب امریکا ننګولی شي خو...!

همدرد

دلويـــــديځوالو دري لويې پريکړې:

داسراييـل او عربـوترمنځ جګړه په شـدت روانه وه، دې جګـړې تـه اسراييـل د«کپـور» ورځې جګړه وايي،اومسلمانان ورته د« رمضان» جګـړه وايـي، دې جګـړه کـې امريکـا اوتولـه اروپا داسراييـل ترشـاولاړ وو، او مســلمانان دفلســطين لــه مظلومـــو مســـلمانانوسره ولاړوو، کله چې لويـديځوالو د اســلامي نـړۍ دګوابنـسونو سربېره ديهودو ملګرتيـاپرې نـه بنـوده، نوعربـانو دوروسـتۍ وسلې په توګه په لويـديځ تيـل بنـدکړل، پـه دې سره امريکـا، اروپا اوليري ختيځ کې صنعتي ژوند په تپـه ودريـد، داروپـا پـه تـاريخ کـې پـه لـومړي ځـل برېښـناقطع شـوه،لوی،لوی بنارونه په تياروکې ډوب شول، دولتي ترانسپورت ودرول شو، فابريکې وتړل شوې،اروپاکې نوی قانون اعـلان شوچې هيڅ تن نشي کولی يواځې موټرکې سفروکړي،زکه په دې سره پيطرول ضايع کېږي، دغه مهال به چې شخصي- موټرخاونـدان لـه کورونوځخـه وتـل ورسره لارکې به يې نورکسان کينول،بيابه يې سفرپيلاوه،که پوليسوته به په هـر موټرکې ځـوکی خـالي ښـکاره شـوه موټرچلـونکی يـې جرمانـه کاوه،همـدې ورځوکې دسويدن يوتن وزير له دندې استعفا ورکړه،زکه پرهغه داتوروچې يـوه شپه يـواځې پخپـل مـوټرکې پـټ وتلـی و،پوليسـوهغه ونيو،ورځخـه پوښـتنې اوګرويږني وکړې،چې په ترڅ کې يې هغوی ته داجوته شوه چې وزيرصـاحب له ښارځخه دخوږو راوړو لپاره موټرکې ديواځې وتلو جرم کړی و

لـه دې وروسـته لويـديځوالو دري لـويې پريکـړې وکـړې، لـومړی: دهغواسلامي هيوادواتحادبه رنګوي، کوم اسلامي هيوادونه چې دتيلـو دتوليـد زيرمې لري

دوهم:توله اسلامي نړۍ به خپله لاسپوڅې ګرځوي

دريم:اروپا اوامريکابه پـه تيلـو دخپـل انحصارسـلنه را کمـوي اوپـه دې موخه به ځانګړې پاليسي جـوړوي، لويـديځوالو دا دړې واړه پريکـړې وکـړې اوهم يې پاليسي جوړونکي ورباندې په عمل کې بريالي شول

دتيلو لاس ته راوړو لپاره دلويديځوالو سازشونه:

دنـړۍ پـه سـلو کـې شـپيته سـلنه تيـل دعربـوسره دي،سـائنس پوهـان وايي:دتيلو دمعلوموزيرموعمر۲۵کاله نورپاته دی،خو دعربـو دتيلوزيرمـوعمر سـل کالـه پاتـه دی،هـره ورځ د(هرمـز) او خليـج فـارس لـه لارې شـاوخوا ۱۶ميليونه بيرل تيل اروپاته وړل کېږي، چې يکـې ۴سـلنه لـه عـربي هيوادونـو

ورل کېږي، نودتیلو دځواک ځخه انکارنه شي کیدی، لویدیځوال چې له دې حقیقت نه په پوره توګه خبردي،نوددې ځواک دغلا کولو لپاره یې دا درې چارې سنجولې، لویدیځوالو دکپور جګړې په پای ته رسیدوسره شېرلوی ګامونه پورته کړل،۱:- دسرو زروپر ځای یې دالر دتبادلې شرح وګرځوله،وړاندې به یوهیواد چې ځومره سره زرلرل، هغومره به هغه شتمن ګڼل کیدل، نړۍ پوهیده چې دسرو زرو زیرمې په اسلامي هیوادونو کې دي، لویدیځوالو ددې لپاره چې شتمنه اسلامي نړۍ ځان ته محتاج کړې نو دالرته یې دسرزروسرویرابره بیه وټاکله، په دې سره نړۍ کې مالي زخایرد«تول یاګرام»په ځای په ملیونویا ملیاردونو حسابول دودشو

۲:- لویدیځوالوپه اروپا،امریکا اولیري ختیځ کې دعربو لپاره ځانګړې شرکتونه جوړکړل، اوهغوی ته یې باور ورکړچې په دې شرکتونوکې دیوډالرجمع کولوپه بدل کې ځو ورځې وروسته سل دالر دګټې په توګه ترلاسه کولی شئ،نوعربان راپورته شول په ملیاردونودالریې په هغو شرکتونو اوبانګونوکې جمع کړل،چې په بدل کې به یې لویدیځوالوهغوی ته دکاغذځوپانې ورکولې، په هغوپانوکې به دمنافعې اوسود دشمیرونه علاوه نورځه نه وو،بل لورته دیته وهځول شول چې په لویدیځ کې دي زمکې اوجایدادونه واخلې،عربان ولګیدل په لویدیځ کې یې ګرابیه زمکې واخیستې،دې لرکې یواځې دفاریس بېلګه کافي ده،فاریس کې دشاترې په نوم سرک نړۍ کې ترټولو ګرانبیه سیمه شمیرل کېږي،داسرک په بنستیزه توګه یو خلاص بازار دی، دسرک دواړوغاړوته لوی،لوی دوکانونه اودانۍ جوړېدي، دا دوکانونه او ودانۍ نوې سلنه دعربانودي،له دې ځخه علاوه دفاریس په شاوخوا اطرافوکې په زرګونوبسوې زمکو باندې دعربانومانۍ اوکورونه جوړکړي دي،په همدې زمانه کې اروپاکې دشراب خانو،رستورانو،او دبرېندوکلبونوجوړولولړۍ پیل شوه، په هغوکې هم عربانوترنورویاته پانګونه وکړه، او اروپایانوسره دفحش اوغلاظت په خوروکې ملګري شول،یواځې برتانیا کې مسلمانان ۴زره شراب خانې،او۵زره فحش تالارونه لري او دامریکاپه شراب خانو اوفحش ځایونوکې۷۳٪سلنه برخه عربان لري، امریکا کې دعربانوپانګونه له کهربونو زیاته ده یواځې دشاهي کورنۍ پانګه یوکهرب یعنې د زرملیارده ځخه زیات دالرپې امریکا کې خښ دي

۳:- امریکا کرار،کرار دتېلوسوداګرې له نوروهیوادونو واخیسته او دلویو کمپنیوپه واک کې یې ورکړه،په دې اړه یې ښه په زړه پورې لوبه ترسره کړه،دېبلګې په توګه دنړیوالوسازشونواوتوطیئو له لارې یې دتیلوپه نرخونوکې دکموالي راوستو لپاره تېل راویستونکوماشینونواودهغوی دفضله پرزه جاتودمصنوعي قلت پیدا کړ،اوکله یې تولیدزیات کړي،او دا یې دپیرلوځخه یې انکار وکړ،ددې حربو کارولو له امله دتیل تولیدوونکې هیوادونه داقتصادي زیانونو سره مخ کېږي،کله چې هغوی پوره وځپي نودتیلو کمپنیواستازي ور وړاندې کړي،وړاندې یې هم داسې کړي او اوس هم داسې کوي،وړاندې دورته حالت پیداکولو وروسته یې دتیلوکمپنیو استازي عربانوته وروړاندې کړل، هغوی عربوته وړاندیز وکړ: تاسو موږ سره مفاهمه اوترون وکړئ! موږته دتېلو راویستلو حقوق ومنئ! دتېلو بیې کمې وي که لوړې، ماشینونه وي اوکه

نه، تېل پلورل کېږي او که نه، موږبه تاسو ته يو خاص حساب درکوو! دعربانو لپاره داسوداهم ګټوره وه، سملا سي هغوی دتېلوکمپنيو له استازو سره ترونوته حاضرشول،په دې سره دتېلوخواک لومړی کمپنيواوبيا دکمپنيو ترشا هيوادونو ته په لاس ورغی دمسلمانانو اوعربانوله لاسويې واک ووت،اوسنی حالت دادی که بندیزونه په لیبیا ولګول شي، يابه عراق، دتېلو کمپنی خپل تېل په غلا استخراجوي اوپلوري يې

۴: لويديځوالو دتېلو پيريدونکو هيودونو اتحاديه جوړه کړه چې ورته (انټرنيشنل انرجی ايمبسي-) وايي، داپه ۱۹۸۵ زکې جوړه شوه،دا اتحاديه دتېلوپيريدونکو هيوادو ترمنځ داتحادلپاره کارکوي ، دتېلو په بيه کې استقرار ساتي،ددې ګټه داده که کله عربان دتېلو دنرخونو لوړولو په موخه دتېلو توليد ودروي، نواتحاديه سملاسي خپلو نورو غړو هيوادونو ته دتېلو د نه پېرلو حکم کوي، په دې سره دتېلو بازارکېښتی ترشنه اسمان لاندې سمندرکې ودريږي، چې په سبب يې تېل وړونکوته دکښتيو دکرايواودساحلونو دلګښتونو په وجه ملیونونه ډالر تاوان رسي.

دعراق او ايران جنګ اوپه کويت دحملې موخې:

۵:ــ امريکا په هغو هيوادوکې چې تېل توليدوي، جنګونه شروع کړل،لومړي قدم کې يې ايران اوعراق سره وجنګول،هغو دواړو يوبل ته دشکست ورکولو لپاره دتېلو په بدل کې له امريکا اواروپا نه وسلې وپېرلې،خه مهال چې دا جګړې پای ته ورسيدې،بيا خه موده وروسته امريکا عراق په کويت باندې حملې کولوته وهڅاوه،عراق چې کله په کويت حمله وکړه،نو سملاسي امريکا او اتحاديانودکويت اوخليج دمرستې لپاره ودانګل،او ددې لپاره يې يو جنګي ائتلاف رامنځته کړ، دعربو دساتنې په نوم يې خپل په زرګونه پوځيان دهغوی (عربو)زره ته راوستل،او د پوځيانو ټول لګښتونه يې په عربو کېښودل،چې تراوسه عربان هرکال په ملياردونو ډالرلګښت ورکوي هلته دامريکائي اواتحادي پوځونودشتون په وجه ټول عربي هيوادونه په بدحالت کې قرارلري او داقتصادي زيانونوسره مخ دي.

يووولسم ستمبر او د عربو اقتصادي زيانونه:

اوس حالت دادی چې کليسا ته له کمبې نه مرسته رسي؛ امريکاکې چې هرځای اقتصادي اومالي زيان ورسي،مخامخ اغېزې په عربوپريوځي،دېلګې په توګه دسوداکری په ۴نړيوالوکمپنيوکې دسعودي شاهي کورنۍ برخه وه،تردې چې کومې کمپنۍ دسوداګری نړيوال مرکزجوړولوکار کړی و، په هغه کې هم دسعودي شاهي کورنۍ برخه وه اوپه دې توګه دسوداګری دنړيوال مرکزنړيدوله امله هم عربوته زيانونه واوښتل

ديوولسم ستمبروروسته په امريکاکې دهوا له لارې دسفرکولو رجحان خورا ټکان خوړلی دی، ددې زيان عربوته واوښت،زکه چې دامريکا په زياترو هوائي شرکتونوکې عربان سهمونه لري،دېلګې په توګه ديوولسم ستمبر وروسته چې کله ډالرنرخ پريوت، نو پکاروه چې عربودتېلو توليد کنترول کړی وی اوپه دې سره به امريکاته زيات زيان اوښتی و،خوددې برعکس سعودي عربستان ولګيد د تېلوپه ورځنيې استخراج کې يې پنځه لکه بيرل

زیاتوالی راوست، چې په دې سره امریکـــاکې دتېلـــو دیـــو بیلرنـــرخ د۲۸۵ ډالـــرو څخـــه ۲۰ډالروته پریوت، ددالر په بیه کې استحکام راغی، دګرانۍ رجحـان کـم شـو، امریکـا لـه اقتصادي زیـان وژغـورل شـوه اوس پوښتنه داده چې سعودي داکـارولې وکـر؟ څـواب یـې ډیرساده دی هغـه داسـې چـې دامریکاپه اقتصاد کې سـعودي پانګونه کړې ده، کـه کلـه هـم امریکایې کمپنۍ لـه خسـارې سره مـخ کېـږي، نـو اثـر یـې مخامخ پـه سـعودي عربسـتان هـم پریوزي،دسـعودي شـاهي کورنۍ شهزادګانو تـه یـې هـم تاوان رسي له دې املـه هغـوی اړدي چې دامریکـا اقتصـاد لـه زیان څخه وژغوري.

اوس داهـم ولـولئ چـې دعربـانوتول مـال ودولـت پـه امریکـا او اروپـاکې خښ دی، دسعودي شـاهي کـورنۍ سـل ملیار ډالر دامریکاپه پیلابیلـو کمپنیوکې خښې دي، داپیسې دشاه فیصل د دوه زامنو، دشـاه فهـد اودهغـه د وروړسـلطان د امریکا په کمپنیوکې لګولې دي، دیوولسم ستمبرپېښه وشوه، امریکـایې تورپـه عربي څوانانو پورې کړ، اودهغـوی دنیولـو پـه بهانـه یـې پـه افغانسـتان حملـه وکړه،دې سره هم مهال امریکا کې عربونه دتاوان غوښتوغږونه هم پورته شـول اوبیـا دې غږونـو یاغوښـتونوهغه مهـال بیـا ډیرجـدیت غـوره کـړ کلـه چـې دسوداګرۍ دنړیوال مرکز قربانیانو دکورنیولخوا محکمې نه دزرملیارد ډالرتاوان ورکولـو عریضـه وړانـدې شـوه،هغوی ویـل دامریکـا حکومـت دي داپیسـې دسعودي څخه واخلي او دېښـې دقربانیـانو وارثانوتـه دي ورکړې،پـه دې سره دسعودي شهزادګانولینګې ولړزیدل اوپوی شول چې داتوله ډرامـه پـه حقیقـت کې د دوی دزر ملیارد ډالرو هضمولوله لپاره پیل شوې، ددې حالت نه دوتلوپه غرض عربانو له امریکاڅخه دخپلو پیسو دانتقالولو پریکـړه وکړه،خوکلـه چـې یې دارونده کمپنیوسره اړیکـه ونیـوه هغـوی ورتـه انکاروکړ،عربـانو دسـفارتي زرایمولـه لارې په امریکا فشارواچاوه،نو دامریکا دولـت هغوی ته دامریکـا دننـه دهغوپیسو دانتقال اجازت ورکړ، هغه هم په مشکله ایله څوسوه لیاردډالریې له یوې امریکائي کمپنۍ څخه بلې غیرامریکائی کمپنۍ ته انتقال کړی شول

عربان امریکا ننګولی شي خو...

اوس تاسو دا وګورئ! که اسراییـل فلسـطیني قیـادت وژنې، امریکـا پـه عـراق حملـه کـولی شـی،دمالیزیا او انـدونیزیا اقتصـادي ترقـي تـم کـولی شي،افغانستان لوټه،لوټه ګړځولی شي،خو عربان دامریکاپه وړاندې دمخالفت غږپورته کولی نشي،اوهیڅکله به یې پورته هم نکړی شي،دازکه چـې دامریکـا پخلاف دغږپه پورته کولو سره امریکاکې خپـل ټـول دولـت لـه لاسـه ورکـوي دفاریس دمـانیو اودهالیبنـدشراب خـانو اوکلبونـو، دامریکـا دهـوائي الوتنوپـه شرکتونوکې دخپلو ملیاردونوډالرپانګې نه لاسونه وینځي

کـه هغـوی دخـدای جـل جلالـه دورکـړي دولـت اوشـتمنیوقربانولوتـه تیارشي، نونه یواځې دامریکا او اروپا له باداری به څانونه خلاص کـړي بلکـې دنړۍ بې تاجاپاچاهان به هم دوی وګرځي، اوهم به الله تعـالی ورتـه ددي پـه بدل کې عوضونه ورکړي خـو ایـا هغـوی کـولی شي چـې دخـدای ج دا لویـه ورکړه دستروعوضونوپه بدل کـې قربـان کـړي؟ بـس پـه همـدې پریکـړه کـې داسلامي امت راتلونکې نیکمرغۍ اوسوکالۍ راز نغښتی دی.

حساسې شپږې او ناسم راپورونه

حسن زوی

دا چې دانسانې تاریخ تر ټولو ستر جنګې اتحاد ۱۹ کاله وراندې پر افغانستان بې موجبه اوناروا یر غل وکړ او همدا هېواد دټبرو ۱۹ کلونو راهیسې ددې نا روا اوږد افغانستانو دټبل شوي جنګ ډګر دی نو طبعاً دجنګ بدې مادي اومعنوي اغېزې تر ټولو زیاتې د همدې هېواد پرمظلوم ولس پرېوتې دي .

دبهرنیو اشغالګرو او داخلي غلامانو په هوایې بمبارېو اوځمکنو بریدونو کې سوتو زره افغانان ووژل شول ،میرمنې کونډې شوې کوچنیان یتیمان شول ، دافغانستانو دغربېدې جونګړې ورانې ،په لوېې شمېرې کې له خپلو سیمو بې ځایه او دربدرۍ سره مخامخ شول خو دافغان ولس تر څنګ چې امریکا او متحدینوته یې دې جنګ کوم سترتاوانونه ورسول اودسیمې پرهېوادونو چې ددې جنګ خومره بدې اغېزې پرېوتې هغه له چا پټې نه دي نوځکه په دوحې کې رامنځته شوې ټرون باندې دافغان ولس ترڅنګ مقابل لوري(امریکا او متحدین یې) او دسیمې ټول هېوادونه خوښ وو او دملګرو ملتونو اداري تر څنګ ټولې ټرۍ. دا ښه پرمختګ ګڼلو او ورته دتائید وړ و.

داچې دافغانستان روانه جګړه او ستونزه سیمیزه نه بلکې نړیواله ده نو دجګړې دپای ته رسېدلو په هکله ددوحې دټرون په څېر ستر پرمختګ هم یواځې دافغان ولس او امریکایانو نه بلکې دټولې نړۍ. لپاره ستره لاسته راوړنه ده نو دې سترې لاسته راوړنې ته اهمیت ورکول ؛ سائنې نه یې ژمنتیا ښودل اودعملي کېدو په لار کې یې خنډونه له منځه وړل دټولې او په ځانګړې ډول دملګرو ملتونو اداري او دستروایا اثره هېوادونو لوی مسئولیت دی خو متأسفانه چې نه دملګرو ملتونو اداري اونه هم نورې نړۍ. دې تاریخي ټرون نه هغومره ارزښت ورکړ څومره چې پکار و او نه یې هم ددې ټرون دساتنې لپاره خپل مسئولیت ادا کړ بلکې داقضیه طرفینو ته داسې پرېښودل شوه لکه چې ورسره دنورې نړۍ. هیڅ تړاو نه وي .

ژر تر ژره د۵زره طالب بندیانو ازادول او ورپسې متصل دبین الافغاني مذاکراتو پیل کېدل ددې ټرون دېره مهمه برخه وه او دټرون درامنځته کېدو پر مهال دکابل اداري پدې هکله خپل هیڅ اعتراض یا غبرګون نه و ښکاره کړی چې دا یې درضایت روښانه دلیل و. دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې وروسته بیادکابل اداري پدې لار کې خنډونه رامنځته کړل او دټرون سره سم د ۵ زره بندیانو له ازادولو یې انکار وکړ چې له امله یې تر دا ننه بین الافغاني مذاکرات دتاخیر ښکار دي .

دکابل اداري ددې نا مسئولانه حرکت پر وراندې نه دملګرو ملتونو اداري او نه هم نورې با اثره نړۍ. خپل غبرګون ښکاره کړ چې دا ددې تاریخي ټرون په هکله دېره ستره جفاوه ځکه چې که دکابل اداره په خپل انکار پاتې شوی وای دا ټرون به دلغوه کېدو د خطر سره مخامخ شوی وای ؛ بس دا خو دامریکا فشار و چې دکابل اداره په تدریجي ډول دلړو لړو بندیانو ازادول پیل کړل .

دکابل اداري ددې نـاغيرې په مقابل کې دچوپتيا نه هم زيات دتأسف ورځپره پدې تـازه ورځـو کـې دملګـرو ملتونـو داداري لـه لورې دبهرنو جنګيـالو دشـتون او ځنـي نـورو موضـوعاتو پـه اړه د راپـور خپرېـدل دي چـې لـه بـده مرغه له واقعتونوسره هيڅ ارخ نـه لګوي نوځکه دافغان ولس لپـاره دزياتې حيرانتيا سبب شوی. پدې راپـور دزرونـو بهرنوجنګيـاليو دشـتون او داسـلامي امـارت دمجاهدينو سره يوځـای ددښمن پرضد دجنګېدو ادعا شوې.

داچـې زمـوږ پـه هېـواد د وحشت نه ډک ستريرغل شوی او ولس مو دستر ظلـم ښکار و نـو دنړۍ دمسـلمانانوتر ځنـک ګڼـو نامسلمانو ملتونو اوهېوادونو هـم پرمـوږ شوی ير غل غندلو او زمـوږ سره يې اخلاقي خواخوږي مل وه ؛ موږ له دې انکار نه وړاندې کړی او نه يې اوس کوو خو تولې نړۍ اوحتی دجنګ مقابل لوري ته هم معلومه ده چې پـدې روان جنـګ کې موږ هيڅکله هم دښړې قوې دقلت سره نـه يـو مخـامخ شـوي بلکې دجهادميدان ته له پيل نه تـر

نه زمـوږ دومره زيات ځوانان رغلي دي چې اسلامي امارت دوئ تولو ته ترنه دوسـلو اوجنګي وسايلو په برابرولو ندی توانېدلي نو دبهرنه دچا دراتلو څه اړتيا ؟ موږ قومي ، ژبنيز اونور تول تعصبات په ډېرې سختی ردوو ددښمن پرضد زمـوږ روان جنـګ څـه قومي جنګ ندی بلکې شرعي سپېځلی جهاد دی نوداسې نده چې له افغانانوپرته پکې دبل مسلمان دګډون مخالف يو بلکې دا وايو چې ددې هېواد خلک ددښمن مقابلې ته کافي دي نودنورې نړۍ نه د مسلمانانو دراتلو اړتيانه ليدل کېږي ،ځکه مو په تېـرو ۱۹ کلونو کې کله هم دنړۍ دمسلمانانونه دلته دراتلـو غوښتنه نـده کـړې ؛ زمـوږ چـاپې اوبرقي رسنۍ له چاپټې ندي ؛ هيڅوک پکې داسې غوښتنه نه شي ثابتولای .

داهم له چاپټه نده چې ددښمن پر ضـد روان جنـګ چريکـي جنـګ دی چې مجاهدين ددښمن پرضد جنګ کوي اوبرته افغانستان په کلو اوښـارونو کې داسې ورکېږي چې دعامو افغانانوسره يې توپير نه کېږي ؛بهرنـی مسـلمان خو که يو هم يوې سيمې ته راشي هرځوک پرې خبرېږي ؛نو دا زرونه بهرنيـان خو مېګيان ندي ژوندي انسانان دي دوئ چرته اوسېږي ؛ پـه خلکـوکې ځنګـه ورکېږي او افغان ولـس يې ځنګه نه وينـي ؟ آيـا دکابـل اداره ديـو بهـرني ځـای ښودلی شي ؟يا په تېرو لسو کلونو کې په جګـړه کـې يـو وژل شـوی يـا نيـول شوی بهرنی ثابتولی شي؟

دتأسف ځای دی چې دملګروملتونو له لـورې پـدې خپـور شـوي راپور کـې راغلي دي چې ددې معلوماتو لپاره کومه خپلواکه پلټنه نده شوې بلکـې راپـور دکابـل اداري اوځينـو نـورو حکومتونـو دمعلومـاتو پـه اسـاس تهيـه شـويدی؛ دکابـل اداره داسلامي امارت سره عملاً په جګړه کې اخته ده اوګـڼ داسـې هېوادونـه شـته چـې پـه افغانستان کې دجنګ دوام غواړي نو دملګرو ملتونو اداره چـې دکابـل رژيـم اوداسـې مغرضو هېوادونو له لورې د ورکړل شويو معلوماتوپربنسټ راپورونـه تيـار اوخپـروي دايې سترە اشتباه ده ځکه خو يې دې راپور کې ګڼ تضادات خپاره شويدي .

دملګروملتونو اداره چې دنړيوالـو سـتونزوحل يـې د رامنځتـه کېـدو لـه مهمـو مقاصدو څخه دي بايد خپل مسئوليت ادا اوخپله توله توجو ددې ستونزې حل لور تـه راواړوي ؛ دکابل دې اعتباره اداري له لورې د ورکړل شويو معلومـاتو پراسـاس داسـې اقدام او اظهار ونکړي چې نړيوال اعتبار ته يې تاوان ورسېږي اوناپيلتوب يې دپوښتنې لاندې راشي .



د علماوو وژنه د غلیم مکاري حربي؟

لیکوال احمد ـ عزم

په مرموز ډول د کدرونو، پوه اشخاصو، د اسلامي دین علماوو ، سیاسي څهرو او د با احساسه لیکوالانو وژل د نړیوالو استخباراتي کړیو او د هغوي د مزدورانو روستۍ هغه حربه ده چې کله پوه شي چې نور یې په مکمل ډول د حق په وړاندې ماته خوړلې نو بیا په دا ډول مغرضانه دسیسو لاس پورې کوي او په ټولنه کې هغه اشخاص خپل هدف گرزوي چې په اولس کې باور او رسوخ لري خلک یې تر شا ولاړ وي او حمایت کوي.

هغه چې اولسونه پرې را ټول وي درې طبقې دي :

۱ - علماء ۲- لیکوالان ۳- شاعران

زمونږ د گران هېواد وگړي دغو درې طبقو ته په احترام قایل دي او دغه درې طبقې د اولس په زړونو کې ځانگړی ځای لري په هېواد کې هغه نظامونه چې د پردو لخوا په افغانانو مسلط شوي کوښښ یې کړی چې لومړی دغه درې طبقې را خپلې او د حقایقو نه ویلو په بدل کې یې مادیات ورته منلې وي چې څه له دغو درې طبقو خلک د دنیا په دې کمې متاع تیروتي وي او په حقایقو یې خپلې خولې او سترگې پټې کړي .

خو زیات شمېر له دغو درې طبقو هغه اشخاص پاتې شوي چې نه یې د جابرو نظامو له جبر وېرېدلي او نه یې د هغوي له لوري ورکوونکي مادیات یا پیسې یې قبولې کړي بلکې تل یې د هغو مزدورو نظامو په وړاندې د حق آواز پورته کړی د بادارانو شتون یې په هېواد کې غندلی هېواد وال یې پر ضد پاڅونوکولو ته را بللي خو دغه علماء بیا په مرموز ډول د پردو لخوا مسلطو نظامو شهیدان کړي او دې ته یې نه دي پرېښي چې اولسونو ته حقایق ورپه گوته کړي دلته به زمونږ د هېواد هغو لاسپوڅو یادونه وکړو چې علماء یې په ناځوانمردانه ډول وژلي

په لومړي قدم کې شاشجاع وه چې کله نور د شکست پړاو ته ورنېږدې شو د علماوو پوهانو په مرموزو وژنو یې لاس پورې کړ په همدې لیست کې ببرک کارمل ، ترکی نجیب هم شامل دی چې لاسونه د دوي د زرگونو علماوو روحانیونو په وینو سره دي

نجیب چې کله د خاد ریاست مشر وه علماء یې له کورو راویستل تر یو څه وخته به یې د تورو تنبو شاته اچول او بیا ژوندي تر خاورو لاندې کول پنځه کاله دمخه د پنځه زرو هغو بې دفاع افغانانو لیستونه خپاره شول چې د نجیب د خاد مشرۍ او د اولسمشرۍ په مهال په مرموز ډول وژلي

لکه څنگه مو چې مخکې یادونه وکړه کله چې لاسپوڅي نظامونو سره د مجاهدینو او عامو مسلمانانو په وړاندې ټول دسایس خنثی شي نو بیا کوښښ کوي د مجاهدینو د بدنامولو په هدف او خپلو شومو پلانو د عملي کولو لپاره علمي اشخاص ترور کوي او شهیدانوي یې

په دې نېزدې ورځو کې د امریکا له لوري په افغانانو مسلطه مزدورې ادارې په دا ډول اعمالو لاس پورې کړی له یو کال را په دیخوا یې په لسگونو علماء ، سیاسي څهرې او لیکوالان په نښه کړل دوي به کله په دغو پیښو کې کې اسلامي امارت ملوث بلل او کله به د دغو پیښو پړه د کابل ادارې ملېشې داعش په غاړه واخیسته

چې له دا ډول مرمورو وژنو څخه د کابل اداري اهداف دوه درلودل

۱- د اسلامي امارت اعتبار په اولس کې کمول او نړیوالو ته داسې ور انګیرل چې ګواکې طالبان د سولې غوښتونکي نه دي بلکې د جګړې طرفداران دي

۲- که به داعش د دغو بریدو کې خپل لاس لرل ومنل دې کې یې هم د کابل اداري ستر هدف دا وه تر څو نړیوالو ته خپله هغه ادعا ثابته کړي چې دلته له اسلامي امارت څخه بغیر نورې شل ډلې دي او حال دا چې داعشیان چې د دوي ملښې دي په کابل کې په مجللو هوټلو کې ناست دي او امنیت یې هم د کابل اداره نیسي او د علماوو د وژلو او په عامو تجمعاتو بریدو کولو ته یې استخداموي

د یوې اونۍ په موده کې د کابل په زړه کې ملي امنیت دوه علماء هدف وګرزول چې یو داکتر ایاز نیازی نومېده د وزیر محمد اکبر خان د جومات له څو کالو راپه دیخوا امام وه د جون په دوهمه چې د شوال له لسمې او د جوزا له دیارلسمې سره سمون خوري د جومات د چپرو او بوتونو ځای سره ماین ورته ځای پر ځای کړی وه پرې وچاودېد او شهید شو

همدا ډول د جون پر ۱۲ چې د شوال ۲۰ او د جوزا ۲۳ سره سمون د جمعې په ورځ دشیرشا سوري مسجد په امام مولوي عزیزالله مفلح باند د جومات په محراب کې په ډېر مهارت ځاي پر ځای شوی ماین داسې مهال چاودنه وکړه چې نومورې عالم تقریر کاوه نومورې له خپلو څو تنو مقدیانو سره د شهادة لوړ مقام ته ورسېد

زمونږ د معلوماتو په اساس چې په دا ډول بریدو کې مستقیما د کابل ملي امنیت لاس ده دوزیر اکبرخان جومات ګڼ مقتدیان وایې چې له چاودنې یوه ورځ دمخه د ملي امنیت کسان راغلل توله یې وویستو او ویل موټر د جومات امنیت نیسو او همدا ډول ښکاري چې د محراب سیمټ په برقي ماشین لرې شوي او ماین پکې ځای پر ځای شوی

همدا ډول د نومورې بریډ په ماسختن د طالبانو له لورې عزم چې یو خپلواک سایټ ده یوه ویډیو ورلېګل شوې چې څو دقیقه یزه کلپ ده او طالبان ادعا کړې چې یاد کسان په روستیو مرموزو وژنو کې لاس لري دوه نفره په کې معلومېږي چې سترګې یې تړل شوي یاده ویډیو کې ښکاري چې یو له دې دوو چې عنایت نومېږي د خپل پلار نوم صدیق الله بتایي او خان لوګر ولایت ته منسوبوي نومورې پخپلو کړنو اعتراف کوي

یاد قاتل خپله توله قیصه کوي چې څه ډول داعش سره یو ځای شو کابل ته ځنګه راغلو چا سره مو ولېدل چا اهداف راکول لویو بریدو او د علماوو سیاسي څېرو وژلو ته چا هڅولو په دې هر څه اقرار کوي

خو په دې تولې ویډیو کې جالب اعترافات دا دي

نومورې زیاتوي، تر هغه وروسته یوه سپینږیري کس ته په دې ټکو معرفي شول، چې ګواکې، دوی په تولو مراحلو کې کامیاب راغلي او باید مخته ولاړ شي«د سپینږیري کس ژبه وردګو ته ورته وه او مونږ ته یې نوم حاجي نورمحمد وښوده، سپین ږیري راته وویل، تاسو ښو کسانو ته معرفي کوم ترڅو قوي کارونه درباندې وکړي، دغه سپین ږیري مونږ د وردګو ولایت د قومي شورا مشر- حاجي ضیاؤالدین او د ملي امنیت د پخواني رئیس رحمت الله نبیل د تره زوی ابراهیم سره کینولو، دوی راته وویل، پر تاسو لومړی دوه کارونه کوو بیا په وراندې ځئ».

عنایت الله وایي، یادو کسانو پرې لومړی د "وحید مژده"په نوم کس وواژه چې د کابل اوومه حوزه کې له خپل کوره د جومات پر لور روان وه، په داسې حال کې چې د میدان وردګو د سیدآباد ولسوالي اوسیدونکي بادام ګل مو ترصد کاوو، لومړی یې د وحید مژده کور راوښوده، د هغه تر وژلو وروسته په دوهم خل یې د "محمدحسن حقیار"په

نوم یوځوک راوښوودە چې برید مو پرې وکړ خو هغه هم بچ او زخمي شو.

نیول شوی داعشی وایي چې تر دې وروسته بیا کله چې د ولسمشریزو تاکنو وخت نږدې وه، د سرور دانش د وژلو نقشه ورکړل شوه، خو په وینا یې چې له ډیرو هڅو وروسته هم کامیاب نه شول.

نوموړی زیاتوي، تر دې وروسته ابراهیم ورته وویل چې مشران ورسره د ملاقاتونو لیوالتیا لري ترڅو پرې لا مهم کارونه وکړي«د شهرنو ساحه کې یې یوه لوکس او غټ کور ته بوتلو چې تر انتظار وروسته یو موټر چې په کې د رحمت الله نبیل او ماهر په نامه ځو تنه مشران وه، راغلل، تر ښه روغبړ او ستاینې وروسته یې ابراهیم ته وویل، دوی ته ټول مصارف او امن ځای برابر کړه، موټر ته یې وویل؛ تاسو هلته اوسیږئ، ملګري به هم درسره وي، ماهر ته یې وویل چې دوی ته ۱۵ زره ډالر د مصارفو لپاره ورکړه.»

دغه داعشی فعال وایي، دوی ته یو کور ونیول شو چې پرې د "د میدان وردګو ولایت د قومي شورا د رئیس دفتر»په نامه لوحه ولګول شوه، زموږ د حفاظت لپاره معتمد کسان ځای پرځای شول؛ تر دې یوه اونۍ وروسته یې د خوشال خان سیمه کې راته ته ځای ونیوه، چې ځینې نور کسان هم وه، وروسته یوځل بیا "ماهر"له نوموړي او ملګري عبیدالله سره وکتل او په خپل تور کروزین کې یې تر زیات تشویق او هڅوني وروسته وویل: اوس باید اصلي کسان چې ورسره د سولې روانه پروسه ختمه شي، لمنځه یوسو او هغه هم خلیلزاد "حرامي" دی» ځکه طالب زموږ او ستاسو مشترک دښمن دی.»

نوموړی وایي، ماهر ورته د خلیلزاد د راتګ د ځای او وخت مالومولو ژمنه ورکړه او دوی ته یې د دریو کسانو بریدګرو او موټر بم برابرولو سپارښتنه وکړه. «تر دې وروسته یې د امنیت ملي له پلیټونو سره پرونر موټر د شورا په دفتر کې راکړ؛ موټر د معاذ سره چې پخوانی مشر مو وه، رابطه وکړه، له هغه سره مو له نږدې ولیدل او اصلي ځای ته د رسیدو پر پلان تر خیرېدو وروسته یې خوښي وښوودە راته ویې ویل چې موټر بګرامیو ته وروليږئ تر څو یې له منفجره توکو ډک کړو.

عنایت وایي«تر ۵ورځو وروسته موټربم تیار شو، موټر ابراهیم ته د خپلې تیارې وویل،درې کسه فدایان ابراهیم(د نبیل د ټره زوی) را انتقال کړل، بیا د مصطفی کور ته ولاړو، هلته راته وویل شول چې څنګ کې کور د "حامد ګیلاني" دی او خلیلزاد له راتګ سره سم اول دلته راځي، کله هم چې هغه بیرته ته، نو تاسو ته به مالومات درکړو، یو تن به په لاره کې پرې موټر بم برید وکړي او دوه تنه نور به له واسکټونو او وسلو سره ورته پیاده شي، ترڅو یو هم ژوندی ولاړ نه شي، ترلسو ورځو انتظار وروسته زموږ کار ځکه بې ګټې شو، چې خلیلزاد کابل ته راغی خو د حامدګیلاني کره ورنغی .

د یادو کسانو له اعترافاتو جوتیږي چې روستي بریدونه همدا ډول په دې اتلس کلنه جګړه کې چې څومره علماء لیکوالان سیاسي څهرې په نښه شوي ، همدا ډول په جومعاتونو ، مدارسو ، عام ټجمعاتو د جنازو مراسمو روغتونو مکاتبو او پوهنتونو کې چاودنې شوي د دې ټولو جنایاتو تر شا د کابل د اداري لاس ده .

ځکه په کابل کې د ناستو چارواکو په سوله کې تاوان ده او په جګړې کې خپل مفاد ورته ښکاري.

باید عام اولس نور وپوهیږي چې په هېواد کې د دې ټولو بدبختیو عاملین او په هېواد کې په اولس مښته ځایونو بریدو تر شا د کابل اداري لاس دی اولس باید نور د دې بلواکه اداري پر خلاف راپورته شي کنې دوکتور ایاز نیازي ، او مولوي عزیزالله مفلح په خبر به زرګونه علمي سرمایې به له لاسه ورکړي.

ولې د بندیانو پر خلاصون ټینګار؟!

شاهد (غزنیوال)

د کابل رژیم له محبسونو څخه د اسلامي امارت اړوند (۵۰۰۰) بندیانو خلاصون له امریکایانو سره د ترسره شوې سولې ټرون یو اساسي شرط دی.

دا ټرون چې د تیر هجري شمسي کال د کب د میاشتې په لسمه په دوحه کې د اسلامي امارت د استازیو او امریکایانو ترمنځ لاسلیک شو په پام کې وه چې د ټرون تر لاسلیک لس ورځې وروسته به یې د کابل رژیم له زندانونو څخه د اسلامي امارت (۵۰۰۰) بندیان د رژیم د (۱۰۰۰) هغو په مقابل کې ورخلاصیږي.

خو کابل رژیم لکه څرنګه چې یې د تأسیس له لومړۍ ورځې نه جګړه ییزه ستراتیژي څرګنده ده د سولې د دې مهم شرط په پوره کولو کې خندونه ایجاد کړي.

د جګړې د خاتمې او سولې د ټینګښت په لاره کې د رژیم د تعلل او پلمه جوړولو له امله د اسلامي امارت د (۵۰۰۰) بندیانو د خلاصون پروسه څو ځله له ځنډ سره مخ شوې او د سولې ټرون له لاسلیکولو درېو میاشتو تیریدو وروسته هم د سولې ټرون بعدي مرحله چې بین الافغاني مذاکرات دي نه ده پیل شوې.

کابل رژیم کوښښ کوي تر څو خپل ځانته د مشروعیت ښکولو په غرض د بندیانو د پروسې تر بشپړیدو وړاندې بین الافغاني مذاکرات پیل شي.

خو دا چې د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ د سولې ټرون ټول مراحل په تدرج مشروط او د یوې مرحلې تر پوره کیدو وروسته به بله هغه پیلیږي؛ ځکه نو اسلامي امارت پر دې ټینګار لري چې باید په هرصورت وي لومړی د ټرون مطابق (۵۰۰۰) بندیان راخلاص او تر هغه وروسته بین الافغاني مذاکرات پیل شي.

اسلامي امارت له خپل لوري د سولې ټرون هرې مرحلې ته د ټرون د موادو مطابق ژمن دی.

او پر دې ټینګار لري چې باید مقابل لوری هم د ټرون مندرجاتو ته په تعهد سره د ټرون بعدي مراحل عملي کړي.

که چیرې د بندیانو پروسې په تکمیل د اسلامي امارت ټینګار نه وي ، نو ښایي مقابل لوری د سولې له ټول ټرون څخه یې یواځې هغه عملي کړي چې د امریکایانو او کابل رژیم په ګټه وي.

په کمکي اختر کې د اسلامي امارت درې ورځنی اعلان شوی اوربند سولې ته د هغه د ژمنتیا یوه ژوندۍ بیلګه ده.

د په پام کې نیول شوی زماني توقیت او ژمنې مطابق د سولې ټرون عملي کیدل په حقیقت کې د یاد ټرون بریالیتوب تضمینوي.

همدا وجه ده چې اسلامي امارت د ژمنې مطابق د (۵۰۰۰) بندیانو پر خلاصیدو ټینګار لري.

که دا شرط او مرحله تکمیل نه شي اسلامي امارت په هیڅ ډول د هغې بعدې مرحلې پیلولو ته نه دی تیار.

ځکه شوني ده چې د دې مرحلې ناقص والی د ټرون راتلونکي مراحل هم اغیزمن او هره مرحله یې همداسې په ناقص ډول عملي شي ، چې دا به له شکه پرته ټول ټرون په محلي او نړیواله کچه بې اعتباره او د جګړې د خاتمې په لاره کې به یې اغیزمنتوب تر پوښتنې لاندې راولي.

م - طیب

په اسلام کې د ورزش او بدني پیاوړتیا ارزښت

ورزش یا (Exercise) د بدني پیاوړتیا او د بدن په قوي کولو کې ستر رول لري، او دا کومه نوې خبره نه ده چې غربي تمدن یې دعوه لري، اسلام له پیله هغه روا ګرځولی، ددې قوت له وجې اسلام ټولې نړۍ ته رسېدلی، بلکې بدني پیاوړتیا د دین یو مهم رکن جهاد لپاره، چې په هغې کې د دین رسولو، د اسلام دفاع او هغه چا لپاره چې اسلام نه منلو سره ځمکه کې فساد کوي؛ یوه وسیله او غایه ده.

کله چې الله تعالی انسان پیدا کړ بیا یې د قوت او ځواک ستر نعمت هم ور په برخه کړ، هغه فرمایي: {اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْقَدِيرُ} [الروم: ٥٤] الله پاک هغه ذات دی چې تاسې یې (د کوچنیتوب) په کمزورې بڼه پیدا کړئ بیا له هغې کمزورۍ وروسته یې تاسې ته قوت دروبښه، بیا له هغه قوت وروسته یې تاسې کمزورۍ او زوړوالي ته وګرځولئ هغه چې هرڅه غواړي پیدا کوي یې، هغه په حقیقت پوهیدونکی، په هرڅه قدرت لرونکی دی.

یقینا قوت د عظمت، افتخار او عزت ځښې دی، ځکه خو الله تعالی خپل ځان لپاره صفت ګرځولی: "ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ" {الذاریات : ٥٨} د ډېر قوت خاوند او زورور دی.

جبرائیل علیه السلام هم د وحي په امانتداری او د رسالت په اداء کولو کې قوي او د ځواکمن په صفت یادوي: { إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ (١٩) ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ} [التکویر: ١٩، ٢٠] دا په حقیقت کې د یوستر استازي وینا ده؛ چې د ډېر قوت لرونکي او د عرش د ځښتن په وړاندې لوړه رتبه لرونکی دی.

نو الله تعالی مسلمانانو ته دا حق ورکړی او هم یې وړاندې لازمه کړې ده چې د خپل ځان، خاورې، له خپلو معتقداتو او شعائرو ځخه دفاع لپاره ځومره چې یې وسه وي ځانونه پیاوړي کړي، الله تعالی فرمایي: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ . . [سورة الأنفال٦٠]. او تاسې تر خپلې وسې ډېر طاقت او تیار زین کړي اسونه د هغوی مقابلې لپاره برابر کړئ ترڅو په دې وسیله د الله پر دښمنانو او پرخپلو دښمنانو هیبت راولئ...

په حديث کې راځي الله تعالى ته خوښ بنده هغه ده چې قوي وي او هغه د عبادت، جهاد لپاره پياوړی او غښتلی جسم ولري، فرمايي: المؤمن القوي خير وأحب الى الله من المؤمن الضعيف. (رواه مسلم).

په همدې اساس انسان ځخه قوت او بدني پياوړتيا د اسلامي شريعت اساسي غوښتنه ده، ځکه قوي جسم په عبادت کولو قادر وي ، له همدې کيله په ځوانۍ کې عبادت بيا ترټولو غوره عبادت دی او ډېر ثواب هم لري.

د اوسني وخت مروجه ورزش هم د بدن پياوړي کولو لپاره ښه وسيله ده، پکار ده چې په هغې کې د جسم د تقويې، نشاط (چستی) يا د کار کولو او رزق ګټلو لپاره د پياوړتيا نيت شوی وي، کله چې نيت صفا وي، نو همدا ورزش بيا په په عبادت بدليږي، مثلا که خندا کې د نشاط، د خوښۍ اظهار، او ذهني سترياختمولو او د همت راوستلو اراده وي، نو خندا عبادت ګرځي او هم ورته ثواب ورکول کيږي. که چېرته ورزش هم بدن ته د الله تعالى په عبادت کولو لپاره دنشاط، د بدن پياوړتيا، د الله تعالى په لاره کې دجهاد لپاره اعداد او کفارو ته د ځواک ښودلو نيت وي، بيا همدغه ورزش عبادت ګرځي .

کـه مـوږ سـوچ وکـړو اسـلام د انسـان روحـي او جسمي دواړو برخو کې مهم برخورد درلودلی، ډېری عبادات چې الله تعالى ورباندې مکلف ګرځولي يو، په خپله ورزش او نشاط دی، که لمونځ دی، نو قيام دی، سجده ، او جلسه ده، مسجد ته پياده مزل دی، د شپې پاځېدل دي، که حج دی، سعيه ده، مندې دي، طواف دی، رمايه (ويشتل) دي، کـه روژه ده، د لـوړو ، تندو او سختيو سره مقابله کول دي، صبر او تحمل دی، جسمي او نفسي تربيه ده، نظم او دسپلين پېژندل او مراعتول دي، د غريبو سره د مرستې او کومک ياد آوري ده.

البته نور عبادات هم شته لکه جهاد چې د بدن تقويې او پياوړتيا لپاره تردې پورته بل ورزش نشته. دغسې نور ډېر اسلامي مفاهيم شته چې روحي اعداد سربېره پکې بدني قوت، ورزش، حرکت، او نشاط ضمناً نغښتي وي.

مسلمان بايد هر وخت قوي او پياوړی وي، تردې چې کله انسان صحت کمزوری شي، په ولاړه لمونځ نه شي کولای اسلام د هغه د صحت د نه متضرره کېدلو لپاره په عبادت کې تخفيف راولي، نو په ناسته لمانځه کولو امر ورته کوي، کـه مسـافر لـه لـوړې او تندې کمزوری کيږي، نو د روژې خوړلو او لمانځه تخفيف رخصت امر دی. يو وخت عمرو بن العاص رضي الله عنه له ډېره عبادته کمزوری ښکاربده پېغمبر صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: "صُمْ وأفْطِرْ وقُمْ ونَمْ، فإنّ لبدنِك عليك حَقًّا وإنّ لعينِك عليك حقًّا" (رواه البخاري ومسلم) روژه ونيسه ، ماته يې کړه، د لمانځه لپاره ودريږه او ويده شه، نو په يقين سره په تا د خپل بدن حق دی، او ستا د سترګې په تا حق دی.

نو دا بايد ومنو چې اسلام مبارک دين تولشموله او د ښېګټو دين دی، چې د انسان هر ډول حقوقو ته يې بشپړه پاملرنه کړې او حتى دهغه دجسم حق بې نه دی پرېښی او په هر حالت کې يې هغه ته د خير او نفعې په رسولو د هغه کاميابي، پياوړتيا او غښتلتيا غوښتې.

له مذهب پرته

مهذب کېدل شوني دي ؟!

ديوسپين پوستي پوليس افسر له لوري دتور پوستي جارج فلويډ دمظلومانه قتل پر ضد لا هم دامريکا په کابو توليو ښارونو کې لاريونونه روان دي بلکې دلويديځ يو شمېر نورو هېوادونو ته هم دا لاريونونه غځېدلي دي ؛ په امريکا او نورلويديځ کې دلاريون کونکو تولې غوښتنې او نارې ښې دي خو په لاريونونو کې چې امريکايانو څه وکړل هغه کړه وړه دقول اوفعل دېر لوی تضاداو دامريکانه دبهر نړۍ لپاره دېرحيرانونکي دي .

امريکايان چې ځانونه دنړۍ ترټولو مهذب انسانان ګڼي په اوسنيو لاريونونو کې يې چې دتيولنيزو رسنيو له لارې کوم ويډيو کليپونه خپرېږي نوېکې لېدل کېږي چې خلک دپوليسو دموټرو تر څنګ دعاموخلکو موټرو اواملاکو ته هم اورونه اچوي ،تخريبوي يې؛ لوی دوکانونه او مغازي لوټوي اوڅه چې په لاس ورځي تري وړي يې .

دېره عجيبه خبره ده چې پر يوامريکايي دشوي ظلم په خلاف امريکايان راوتي دي ،دظلم اوبې انصافۍ پرضد شعارونه ورکوي او د دولت نه دعدل ، انصاف، مساوات اوظالم ته دسزا غوښتنه کوي خوهمدا په سونوزره امريکايان پر نورو امريکايانوظلم کوي ؛ موټرو او نورو املاکو ته يې اور اچوي ،تخريبوي يې مالونه يې لوټوي اوددوئ په لاس په خپلو امريکايانو کېدونکي داظلم ظلم نه ګڼي او نه يې پرې ضمېرونه ملامتوي .

په ځنې اسلامي هېوادونوکې چې دلاريونو پر مهال دولتي يا نا دولتي املاکو ته دلاريون کونکو له لوري تاوان ورسېږي په ورځپاڼو او جرايدو کې يې چې پرضد څوک ليکنې کوي نو زياتره پکې دمسلمانانو دجهل ، ناشايسټګۍ اودتمدن نه دلرېوالي خبره کوي او ترځنګ يې دا وايي چې په امريکا او اروپا کې دېر ستر لاريونونه ترسره شي خو دکومې وداتي ياموټر ښيښه هم پکې ماته نه شي .

زموږ عام خلک چې دامريکا او اروپا له دغه حالاتو نه زيات ندي خبر ګومان کوي چې رښتيا به هم دامريکا او نور لويديځ ټول اوسېدونکي دېر متمدن ، شايسته عدل اوانصاف خوښونکي ، بشردوستان ، انساني اقدارونه ژمن ؛ له تولوتوپيرونو او تعصباتونه پورته دانسانانو قدردان او د زړونو نه دقانون او اصولو خوښونکي او منونکي وي .

خو په واقع کې داسې نده ؛ موږ نه وايو چې امريکايان او نور لويديځوال ګڼې بېخي ښه خويونه نه لري خو لويديځپال خلک يې چې څنګه وړاندې کوي دوئ په رښتيا داسې نه دي ، چې دامريکا په اوسنو لاريونونو کې سترلوټمار دعامو امريکايانو داملاکوتخريب او ورته بلاحاجته لوی ضرورنه رسول زموږ ددې خبرې ښکاره ثبوت دی.

بل داچې يواځې خپل قوم او خپل ولس سره خواخوږي ښکاره کول اوپرې دکېدونکوظلمونو خلاف راپورته کېدل هم بشردوستي نده ؛ دټول بشريت سره خواخوږي او درنښ په هر ګوډ کې دبشريت پر وړاندې دظلم خلاف دحق ناره پورته کول او ودرېدل رېښتوني بشر دوستي ده ؛دچا بشر دوستي اوخواخوږي چې عامه وي ؛عدل په هرځای کې غواړي اوپه هرځای کې دهر ظلم خلاف وي هغوئ ددې وړ دي چې دژوندی احساس څښتنان اوبشردوستان وګڼل شي.

امريکا او اتحاديانو يې چې په منځنۍ ختيځ کې د دولتونو پرضد ولسونه راپاڅول او د ولسي لاريونونو له لارې يې نظامونه رنګ کړل ؛دخپلو شومو پلانونو دتطبيق په موخه يې

په ټوله نړۍ کې بد امني خپره کړېده ؛ پر افغانستان او عراق دناروا یرغل په نتیجه کې دستروبمونوپه غورځولو دغریبومسلمانانو کورونه ، دافتخار څلي ،جوماتونه ، مدرسې ، ښوونځي ، روغتونونه ونړول، قابضو وحشي فوځیانو په لاس دکوچنیانو او مېرمنو په شمول دسونو زرو بې گناه انسانانوقتل عام او بې ساري لویه بربادي رامنځته شوه .

اوخبره یواځې دعراق او افغانستان نده بلکې د امریکا په مشرۍ کې لویدیځ دخپلومادي موخولپاره دټولې نړۍ د زندۍ کولو هڅې کړیدي اوددې لپاره ډېر ناوړه اقدامات دمشر اوکشر بوش په زمانه کې ترسره شویدي.

پدې اوس هرڅو ک پوه دي چې په عالم اسلام کې دروانو ټولو بد امنیو ، وینو تویدلو اوداخلي جنگونو تر شا دامریکا لاس دی.

نوپوښتنه دا ده چې دامریکا او نور لویدیځ ولسونه دخپلو دولتونو داوحشت اوظلمونه ولې نه وینې اوپرضد یې نه راپورته کېږي ؟

آیا همدا بشر دوستي اومهذبتوب دی ؟

دیو امریکایې په وژل کېدو دې قیام کوي او دهمدې امریکایې فوځیانو په لاس چې په سونو زره بې گناه انسانان وژل کېږي پرې دې چوپه خوله وي ؟!

اوس چې دیو امریکایې په وژل کېدو دامریکااو نور لویدیځ ولسونه راپاڅېدل که همداسې دخپلو دولتونود ظلمونوپرضد راپورته شوي وای ولې به نړۍ کې دا دومره ستره بد امني خپرېدله او ولې به دا دومره زیات بې گناه انسانان دوحشت ښکار کېدل؟

حقیقت دادی چې په نړۍ کې دتر سره شویو اوروانوظلمونو په هکله دلویدیځ ولسونه او دولتونه دیوبل نه بېلول ؛ یومجرم گرځول اوبل ته برائت ورکول ناسم قضاوت دی ،ځکه چې دولتي ټول ظالم مشران دهمدې ولسونو له منځ نه راعلي اوهمدې ولسونو چې یوځل څوک منتخب کړیدي نودهغوئ دټولو وحشتونو دلیدلو نه پس یې بیاهم په راتلونکو انتخاباتو کې همغوئ ته رایې ورکړیدي چې پدې توگه ټول غربیان په ټولو شویو او روانو وحشتونو کې یوشان شریکان گڼل کېږي.

اصلاً دغربیانو پخوانی مزاج دادی چې له خپل ځان پرته نورو انسانانو ته چندان دانسانانو په نظر نه گوري او نه پرې ظلم او وحشت بد گڼي. تاسې وگورئ ! په پنځلسمې پېړۍ کې چې فرانسې ،برتانې ، هسپانې ، پرتگال ، ډنمارک اونوروغربي هېوادونو افریقایې هېوادونه قبضه کړل نو ټول افریقایې وگړي یې خپل غلامان گڼل او څومره یې چې خوښ وو ترې به یې کښتۍ ډکولې اولویدیځ ته به یې جبرا راوستل د۱۸٦۵م پورې چې دا لړۍ روانه وه لویدیځ ته له ۱۲ ملیونه زیات افریقایان راوستل شوي وو؛ دابه ټول غلامان وو؛ اوددوئ پیراو پلور په لویدیځ کې ډېر لوی کاروبار و؛ شاقه ټول کارونه له همدوئ اخستل کېدل ؛ سخت ظلمونه پرې کېدل او خپل مالک به یې په کوچني تخلف هم د وژلوکلي اختیار درلودلو.

بیا دغلامۍ دمصیبت نه دتور پوستو راوتل څه دسپین پوستو درحم په نتیجه کې ندي شوي بلکې ددې لپاره ډېر ستر تحریکونه وچلېدل اولویې قربانئ ورکړل شوې.

دسترو تحریکونواو قربانیو نه پس خودتورپوستوقانوني غلامي ختمه شوه خو سپین پوستي ذهناً تور پوستو ته د ازادو انسانانو په حیث قائل نه شول بلکې دځان په څېر انسانان یې لا نه گڼل.

دهمدې تېرې شلمې پېړۍ دنیمایې نه لږ وړاندې مودې ته چې وکتل شي وینو چې په لویدیځ کې تورپوستانو ته دانسانانو په نظر نه کتل کېدل ؛ تور پوستانو دسپین پوستو سره په بس کې یوځای دسفر کولو ، په یوهوټل کې د ډوډۍ خوړلو او په یو روغتون کې دعلاج کولو حق نه درلودلو؛ په هر ځای کې د دواړو ترمنځ کرښې راښکل شوی وې او دا هرڅه دقانون برخه وه.

بيا دنورو اوږدو تحريکونو او قربانيو لـه امله تورپوسـتي هـم دسـپين پوسـتو سره برابـر انسـانان وګڼـل شـول خـوچې اسـماني لارښونوياندې عمـل او مـذهب تـه نږديکـت نشـته تـر تنـه درنـګ اونسل پر بنسټ تعصب له لويـديځ نه ختم نه شو.

نوچې ايمان نه وي ،مذهب نه وي او اسماني لارښوونو ته ژمنتيا نـه وي په حقيقي معنو کې بشر دوسـتي نه شي متحققه کېدای.

دلويديځ دتهذيب او تمدن خبره هم دبشر دوستي په خُبر ده چې پـه اړه يـې دعـوې لـه نفـس الامر نه خلاف دي ؛ نوم دتهذيب دی خو چې ورتـه وکتـل شي نـو دحدودو او قيودو نه وتلي دنفـس هغه خواهشات دي چې انسـاني ټولنې تـه يـې نـه جرانېـدونکي تاوانونه ور اړولي دي .

زيـاتره لويـديځوال کـه پوهان اوسياستوال دي او که عـام وګـړي ځـان مهـذب او متمـدن ګڼي، مسـلمانانو تـه د ترهګـرۍ، بنسـټپالنې ، تنـګ نظـرۍ او افراطيت په خبر ډول ډول نسبتونه کـوي ، مسـلمانان دتمـدن دښـمنان، د بشـري حقونـو پـه ځانګړې توګـه دميرمنـو دحقونـو سرغړونکـي بـولي. مـږی نـه پوهيږي چې لويديځوال څه شي ته فرهنګ او تهذيب وايي اوپرې ويارې؟ پارلمانونـه يې چې په اکثريت سره همجنسبازی ته قانوني حيثيت ورکوي دا تمدن دی؟

که فحاشی او جنسي بې لاری ته دانسـاني ټولنې سـوقول تهـذيب دی ؟ کـه دبيان هغه ازادي چې له لارې يې په امريکا،ډنمارک، هالنډ،ناروې، فرانسـې او نـورو کې داسلام اومسلمانانوپر ضد سپکونکې هڅې فرهنګ دی؟

که دادیانو دمساوات او مذهبي زغم هغه اصول چې فرانسې او نورو يې د تعميـل پـه لړ کې پرمسلمانوميرمنو دحجاب بنديزونه ولګول همدې ته تمدن ويل کېږي ؟

که د شرابو، قمار، رقصونو او زنا کلبونه پرانستل اوبازارونه لګول ددې ور دی چې فرهنګ وګڼل شي ؟

دنر اوښځې دمسـاوات هغـه کـړنلاره چـې ښـځې يـې دکارخـانو، کمپنيـو او ماريکيتونو دشهرت آلې ګرځولې اونارينه ته په بازارونو کې دمېرمنو له کرايې او پېر او پلور څخه دمادي اجناسو په خُبر د لوی مبلغ د ترلاسـه کولـو لارې برابـرې کړيـدي آياهمدا تمدن دی؟

اصل خبره داده چې په امريکا او نور لويديځ کې قوي نظامونه دي چـې خپلـو اتباعو ته يې دژوند چوکاټ جوړ کړی او داصولو اوقوانينوسره سم ژوند تېرولو ته يې اړ کړيدي نور نو په امريکا او نورلويديځ کې چې اسماني لارښوونو ته ژمنتيا نشته په صحيح معنو نه بشر دوستي شته او نه هم تهذيب او تمدن.

کلنو راپورونو ته چې وکتل شي نړۍ معلومېږي چې يواځې دغـربي نـړۍ دتهـذيب په ننني مرکز(امريکا)کې چې په کـال کـې څـومره جرمونـه اوجنايتونـه تکرارېږي پـه تولـه اسلامي نړۍ کې دهغې نيمايې هم نه ترسره کيږي، داکوم لړ جرمونه چې هم پـه اسـلامي نړۍ کې پېښېږي لويه وجه يې داده چې مسلمانانوپه خپل دين پوره عمل نه دی کړی، کنه له همدې نسبي جرمونو به هم اسلامي نړۍ پاکه وای .

او په دين باندې دعمل دکمزورۍ اوترې درامېدا شووټولو ستونزوعمده علـت دادی چې پراسلامي نړۍ حاکمه طبقه اسلام لـه دولتـي چـارواو ټولنيز ژونداتـه څخـه ايسـتلی اويواځې په شخصي ژوند کې يې تر عباداتو منحصر کړيدی.

که مسلمانانو په خپل دين پوره پوره عمل کولی يې لـه شـکه اوسـنۍ اخلاقـي اوټولنيزې ستونزې به يې ټولې له منځه تللې وای ،ځکه چـې پـه اسـلامي نـړۍ کـې داوسنيو ټولو ستونزو بنسټيزلامل داسلامي نړۍ نه داسلام داجتماعي او سياسي نظـام او اسلامي تهذيب وتل دي چې دلويديځ ټولې هڅې هم دهمدې لپاره دي اومتأسفانه چې زمونږ دلار ورکو مسلمانانونه ددې لپاره ډېر کار اخستل کېږي .

د شهید مولوي محمدمعصوم قریشي تقبله الله

ژوند لیک

اسلام که څه هم د دعوت پر مټ خپور شوی او پیل کې له همدې لاري ورته کار شوی، خو لکه څرنګه چې هغه له ګنو مکلفیتونو عبارت او په ځان کې د الله تعالی ګڼ امرونه او نواهي را تولوي، جهاد هم د هغه له أمرونو او پرېښودل یې له نواهیوو څخه دی، دغه أمر د رسول الله صل الله علیه وسلم له خوکاله پرلپسې دعوت وروسته د هغه د دعوت لړی، د چټکتیا، له اسلام، مسلمانانو او اسلامي خاورې او ارزښتونو څخه د دفاع، د هغوی د پایښت او په توله کې د بشریت د ښېرازۍ، د غوره ضمانت په توګه وشو، د نن ورځې عربي او مسلمانه نړۍ له همدې ضمانته د وتلو له أمله له خورا زیاتو او پېچلو ننګونو سره مخ ده.

د جهاد أمر ته تعهد او ژمنتیا او پکې د مجاهد له خپلو ملګرو، مشرانو، افرادو، مقابل لوري، مړو، اسیرانو، ځخمیانو، ولس، بې طرفه جهتونو، ملتونو او...سره د هغه په غوښتنه برابر تعامل یو تر تولو غوره او اغېزمن دعوت ثابتېدای شي او د عزت او برم ترڅنګ الله تعالی دغه خاصیت هم په جهاد کې اېښی دی، له همدې أمله د اسلام په تاریخ کې تول مجاهد واکمنان، رهبران او جهادي لېدران ستایل شوي، مورږ افغانانو دغه حقیقت اوس ښه درک کړی هم دی او د اسلامي امارت د دریو زعامتونو په شمول مخکښ اشخاص او جهادي قوماندانان هم له همدې جملې څخه دي چې تاریخ به یې د وخت د وتلو څېرو په صفت ثبتوي، له دوی څخه یو د تاندي خوانې شهکار مجاهد مولوي محمدمعصوم قریشي پر ژوند لنډ غږېږو، هو! لنډ چې پېښې او ناپېښې کیسې یې پرېږدو او پر لږ څه بسنه وکړو.

زوکړه او زدکړې: شهید مولوي محمد معصوم قریشي- تقبله الله د لوګر محمدآغې ولسوالۍ مولوي عبدالشکور صاحب زوی او د مولوي عبدالمنان مرحوم ملسی په قوم عبدلخیل-حسین خیل پر۱۳۵۹لمریز کال د کابل چهار آسیاب ولسوالۍ په خیر اباد کلي کې دې فاني او توپاني نړۍ ته سترګې پرانیستې.

په ماشومتوب یې کورنۍ له شوروي یرغل څخه د هجرتونو په لړ کې پر۱۳۶۳لمریز کال د تړې منګل له لارې ګاونډي هېواد سره په ګډه پوله پرتې د صدې سیمې ته واوښتل، څو ورځې وروسته د هنګو خیساړې سیمې د ملنګیانو په نوم د کډوالو پنډغالي ته لاړل، درې کاله وروسته له هغه ځایه د هنګو قاضي پمپ سیمې او بیا ورځېرمه د منګلو په نوم د کډوالو پنډغالي ته نقل شول.

پر نېردې۷کلنۍ د لومړنیو عصري زدکړو لپاره په قاضي پمپ کې د امام محمد بن الحسن شیباني ښوونځي ته داخل شو، تر متوسطې یې عصري زدکړې پر مخ یووړې، لومړنۍ دېنې زدکړې له خپل والد صاحب څخه پیل کړې، وروسته د نېکه مرحوم مولوي عبدالمنان صاحب په مشوره یې والد صاحب له دوو نورو ورونو سره د هنګو مفتاح العلوم مدرسې ته داخل کړ، د صرفو او نحوې لومړنۍ کتابونه یې همدلته ولوستل، وروسته د هنګو کوتکي پایان په جامعه فاروقیه کې

له محترم مولوي سلطان محمد صاحب څخه څو کتابونه وویل.

پر۲۰۰۱زېږديز کال چې له۱۳۸۰لمريز سره په سمون کې وه د هنګو کاهې سيمې دارالعلوم سراج الاسلام ته د پينځمې درجې لپاره داخل شو، ورپسې يوځل بيا مفتاح العلوم مدرسې ته لاړ، د هغې ترځنګ په ګڼو نورو مدرسو کې يې فنون سرته ورسول او پر۱۳۸۲زېږديز کال دوهم خل سراج الاسلام کاهې کې د وړې دورې لپاره داخل شو، ورپسې يې لويه دوره هم همدلته له مرحوم شيخ صاحب عبدالرحيم مرحوم شيخ الحديث عين الدين صاحب، شيخ تاج محمد صاحب او شيخ الحديث سميع الله راشد صاحب څخه وکړه او په۲۰۰۴زېږديز کال چې له۱۳۸۴لمريز سره برابر وه د عاليت پکړې وترله.

دا چې نومورې له وروکتوبه د ښه ذهن او استعداد خښتن وه، له فراغت سره سم يې همدلته تدريس پيل او تر څلورو کالو يې دوام ورکړ، د درس ترځنګ يې د مؤذن دنده او د مدرسې د نظم ځينې چارې لکه د برق او اوبو چارې هم پر مخ وړلې، خو بيا ترې د جهادي بوختياوو له أمله درس او دا هرڅه پاتې شول.

د جهاد پيل يې: شهيد مولوي محمد معصوم قريشي تقبله الله لکه چې ومو ويل د وروکتوب له خاپورو څخه يې د هجرت لاره نېولې وه او د جهاد شتون او مفهوم پوهېدلی وه چې له تنکي څلمښتوب سره يې عملاً جهاد ته مخه کړه، په لومړي ځل يې پر۱۳۷۸زېږديز کال د مولوي محمد خان په مشرۍ او مولوي جهادالله، مولوي حبيب الرحمن او... په ملتيا لومړی جهادي سفر د پروان ولايت بګرام ولسوالۍ ته وکړ، له هغه وروسته يې د هېواد ګڼو مرکزي او شمالي ولايتونو لکه ميدان شار، لوګر، کابل، پروان، تخار، مزار شريف، کندز او... ته جهادي سفرونه درلودلي چې د اسلامي امارت د سقوط پر مهال د خپل ماما له زوی شهيد مولوي ګل وزير تقبله الله سره د اشغال چوپړيانو پر لاس د کندز ولايت کې معاصره شول، خو له دري ځې څخه په استفادې يې خان راخلاص کړ، زياته لاره يې پياده ووهله او له ډېرې ستړيا وروسته نږدې۱۷مه ورځ کابل کې خپلوانو کره لوڅې پښې او لوڅ سرونه را ورسېدل.

د اشغال پر وراندې جهاد يې له هماغو درسي کلنيو او ځينې نورو رخصتيو څخه راپيل کړی وه چې خال خال يې دوام درلود او مخ پر پراخېدو و، له۴کاله تدريس وروسته يې علمي بوختيا ته شا کړه او د پکتيا په غرنۍ سيمه ځمکنو کې يې امامت ونېوه تر څو له نږدې خپلې جهادي چارې پر مخ يوسي، دا مهال چې په يادې سيمه کې مجاهدينو پر دښمن کم کم بريدونه کول، زياتر چا د عملياتو د پراخولو زړه نشو کولای، شهيد معصوم به پر يو او بل نوم د فعاليت زمينه سازي کوله، عمليات به يې ترسره کول.

شهيد مولوي صاحب ډېرې کارنامې درلودې چې دلته د ټولو راوړل ستونزمن دي، د بېلګې په ډول يې د څلورو يادونه کوو، د ۲۰۱۱زېږديز کال۱۰مې/پر۱۱د پنجشنبې په ورځ د مازدېګر پر۴بجو يې د شهرنو پر کمپاين د هاوان پر مټ په يو برېد کې يې ۷ تنه أمريکايان ووژل او ګڼ يې ژوبل کړل، پر۲۰۱۲کال يې د ماسپښين۳بجې پر شهرنو ولسوالۍ د هاوان برېد وکړ چې له أمله يې د ترلاسه شويو مالوماتو پر اساس د۱۶امريکايي اشغالګرو او۱۱ګوډاګيو پوليسو وژل کېدو سربېره څو نور ژوبل شول، د۱۴۳۱سپوږمیز کال دجمادی الثاني پر۵مه يې د باګرام په هوايي ډګر۵تنه استشهاديان دننه کړل چې خورا بريالي عمليات يې ترسره او دښمن ته يې درنه مرګژوبله واړوله او د۲۰۱۳زېږديز کال۶مې پر۳مه يې د يو موترسائکل په واسطه په داسې مهال پر امريکايانو فدايي برېد ترسره کړ چې له ولسوالۍ څخه د کمپاين لور ته د وتلو په حالت کې و، په ترڅ کې يې۱۱تنه

اشغالگر له منځه لاړل او ګڼ نور ژوبل شول.

شهید مولوي صاحب تقبله الله څو کاله پرلپسې په څمکنیو ولسوالۍ کې عملیاتونه ترسره کړل او همدلته یې یوه ډلګۍ وه، خو بیایې ښې وړتیا ته پر کتو د مشرانو له لوري پر۲۰۱۴زېږدیز کال د خوست ولایت باك ولسوالۍ لپاره جهادي مسئول تعیین شو، د ډلګۍ چاري یې خپل یو ملګري ته پرېښودې او په بشپړ متانت سره یې یاد مسئولیت پر مخ یووړ، وروسته یې اړوند مسئولینو ته استعفاء وړاندي او د ژوند تر پایه یې همغه ډلګۍ وه.

شهید قریشي تقبله الله د خدای ج د لاري جهاد کې سړې تودې هم ګاللې وې چې یوځل له څمکنیو څخه کور ته د تللو پر مهال د پټان ولسوالۍ پر پوله سرحدي پولیسو لخوا ونېول شو او بیا د پیسو په بدل کې د سید اغا په نوم د لوګر یو قوماندان په سپارښتنه له څو ورځي زندان وروسته اشغالګرو خلاص کړ، همدا راز پر۲۰۱۶کال پسرلنیو عملیاتو په موخه د تللو پر مهال د پاکستان أمنیتي ځواکونو له لوري ونېول شو چې له دوه ورځي ځنډ وروسته د سنګر تر مجاهدېنو ورسید، له دې پرته یې د جهاد په سپېڅلې لاره کې ډېر زحمتونه او خوارۍ کښلې الله تعالی دې ورته قبول کړي.

شخصیت یې: د شهید مولوي معصوم قریشي تقبله الله د شخصیت په اړه که لنډ ووایو هغه یو پاك رزی، سپین زړی او خواخوږی شخص او د ښي وړتیا، ستري حوصلي، اوسپنیز هوډ، مخلص، متشرع، متواضع او د لوړو اخلاقو څښتن مجاهد و، نوموړی د غوره علمي سویې، په نظامي تخنیك کې د تجربې او جهادي سابقې ترڅنګ غوره داعي او بریالی قوماندان و، د جهاد او اسلامي امارت اهدافو ته متعهد، وفادار او ژمن مشر و، نه یواځي د خپلو ملګرو تر منځ بلکي په خپلو او پردو ټولو کې یې محبوبیت درلود، د خپلو ښو ځانګړنو پر مټ یې مجاهدین او ولسونه پر ځان را ټول کړي و، هغه یو خوش تبه او مزاحي، ځیرك او هوښیار ځوان و، نوموړی له مېړانې، جرأت، ثبات، حوصلې او ایثار څخه سرشاره مشر و، تدبر، اخلاص، تقوا، متانت او غوره وړتیا او زړورتیا یې نور مواصفات و چې ډېري کیسې او خوږې خاطرې یې شته، خو دلته یې راوړل ستونزمن دي.

شهادت یې: بالآخر د جهاد د سپېڅلې لاري ستړی لاروي شهید مولوي محمد معصوم قریشي تقبله الله په وروستي وار څمکنو ته لاړ، له ولس سره یې مخه ښه وکړل او د جانخېلو په لور د یو ستر برید په تکل وخوځېد، له پلان سره سم برید ته را ټول شوي ملګري پر دوو برخو ووېشل شول چې د یوې برخې مشري یې د شهید مولوي معصوم تقبله الله پر غاړه وه، برید پیل او پر مختګ هم وشو، مزدور دښمن ته درنه مرګژوبله واوښته، پر همدې مهال له دښمن سره په مخامخ جګړه کې د یوه هوایي برید له أمله د تقریباً۳۷کلونو په عمر د۱۳۹۶لمریز کال۷/۵چې د۲۰۱۷زېږدیز کال۹/ له۲۷سره برابره وه د چهارشنبې په ورځ د شهادت لوړ مقام ته ورسېد انا لله و انا الیه راجعون.

جنازه یې د جمې په ورځ د شیخ الحدیث مولوي فیض الله موسوي (امام) صاحب په امامت ادا او په پلرني ټاټوبي د لوګر محمد آغې ولسوالۍ کې خاورو ته وسپارل شو، نوموړي شاته والدین، تورسرې او د غښتلو او سر سپارلو مجاهدېنو یوه ډلګۍ پرېښوده، اروا یې ښاده او یاد یې تل ژوندی اوسه.

له خپلوانو او ملګرو یې په منې



شهید عبدالواحد "عکرمه" تقبله الله

نذیرهلال

له کله نه چې زمونږ دې جهاد پالې، اسلام پالې خاورې او د امپراطوریو هدیرې ته د اسلام مبارک دین راغلی او د دین روښان شمع بله شوې؛ نو زمونږ مسلمان ولس او بیا خوانو طالبانو، د دې شمعې بلې ساتلو ته زیاتې قربانۍ ورکړې، د ژوند له تولو خوښیو سره یې مخه بنه کړې او هر قسم مشکلاتو ته یې غیږه خلاصه کړې او په خدا ورسره غاړه غړۍ شوې. د دغو سپینو ستورو اتلانو له رنګین قتاره، یو هم د نبوي صفې او سنګر مسافر طالب، شهید عکرمه تقبله الله و.

شهید طالب العلم عبدالواحد، چې په مجاهدینو ملګرو کې یې په عکرمه شهرت درلود، د عبدالمالک اکا زوی، د کاپیسا ولایت، د نجراب ولسوالۍ د افغانیې د سیمې اوسېدونکی وه.

شهید عکرمه تقبله الله د طالبانو د اسلامي تحریک په اخیرنیو کلونو کې د عبدالمالک اکا په اسلام پالې او جهاد پالې کورنۍ کې دې فاني دنیا ته سترګې غړولې وې.

شهید عکرمه تقبله الله په کوچنیوالي کې دمور او پلار په خدمت او د کښت او مالداري په چارو کې له خپل والد صیب سره مصروف و، چې یو څه سترشو؛ نو د کلي له ملا امام او یوې سیمیزې مدرسې نه یې دیني زده کړې پیل کړې. او ورسره یې د کلي په مکتب کې خو ابتدایي صنفونه وویل.

علمي یون

د شهید عکرمه تقبله الله له ماشومتوبه یې خدای په زړه کې د خپل دین د زده کړې او ساتنې مینه راتوکولې وه، د همدې مینې لپاره یې عصري زده کړې ترک کړې او مدرسې ته یې مخه کړه.

د جلال اباد په مختلفو مدرسو کې یې زده کړې وکړې، درې کاله د کوزې پښتونخوا مدرسو ته ولاړ او هلته یې په جامعه روضة الاسلام او دارالعلوم محمدیه ماشوخیل کې تر دریمې درجې درسونه وویل.

روحاني رابطه

که څه هم د شهید عکرمه تقبله الله یوه ځانګېړنه داوه، چې تل به یې ژبه د الله تعالی په یاد لمده وه؛ خو د باطني او معنوي تربیې لپاره یو مرشد او لارښود ضرور وي، له استخارې کولو وروسته یې، د دریمې درجې په کال ۱۴۴۱ له شیخ القرآن والحدیث عبدالرشید شنواري حفظه الله سره بیعت وکړ.

دجهادي مبارزې پیل

شهید عکرمه تقبله الله له کوچنیوالي له جهاد او وسلوالې مبارزې سره نه ماتېدونکې تنده درلوده، یواځې دېته انتظار و، چې د عمر له لحاظه د جهاد وړ شي؛ خو نوموړی لاپوره د ځوانۍ مرحلې ته نه و

رسېدلی ، چې جهادي جذبه او د سنګر مینه وروباندې غالبه شوه. او د اولنۍ درجې په کال د درسونه له منځه د جهاد سنګرونو ته ولاړه، او مسلسل یو کال یې په خط کې تېر کړ.

چې بیا له هغې راوروسته هرکال د شهادت تر ورځې، ده په دې پاکه مقدسه فریضه کې سستي ونکړه، او د درسونو اختتام سره به، په ډېره تلوسه جهادي سنګرونو ته تلو.

ځانګړنیاوې

په شهید عکرمه تقبله الله کې په تنها ځان داسې صفات راټول ول، چې په ډېرو کسانو کې یې په پوځای موندل ګران دي، په مجلس کې یې هیڅ کله هم دچا غیبت نه کاوه، او که بل چا به شروع هم که، ورته ویل به یې:څې کوې غیبت یې مه کوه!

له ملګرو سره ډېره صمیمانه زندګي کوله، بې ځایه مجلسونه او جنجالونه یې نه خوښول، که ده ملګري به سره خوا بدي شول، ده به ډېر اخلاص سره د هغوی جوړه کوله، په مرکز او مدرسه کې د کوټې د ملګرو اکثریت خدمت یې نه په ورین تندي کاوه او له عام ولس سره یې ګوزاره ډېره صمیمانه او له اخلاقو ډک وه، او د هغوی د سوکالتیا او ارامتیا لپاره یې زیات کوښښ کاوه.

ارمان یې

د انسان ژوند ټول ارمان ارمان وي، د دنیا نور خلک د ښې زندګي، مرفه ژوندون، د دنیا دقسماقسم مزو چرچو وغیره نورو لهوياتو ارمان لري ؛ خو زمونږ د ځوانانو ارمانونه د نورو خلکو له ارمانونو څه ډېل شانته دي. شپه او ورځ د جهاد، غزا او سنګر، شهادت او استشهاد ارمانونه په زړونو او فکرونو کې ګرزوي.

د شهید عکرمه تقبله الله هم یو ستر ارمان دا وه، چې څنګه وکولای شي د استشهاد او فدایانو په سپېڅلو لیکو کې ځان شامل کړي، او له کافرانو، د اسلام او مسلمانانو انتقام په استشهادي عملیاتو سره واخلي، چې تقریبا دې سپېڅلي هدف ته درسیدو لپاره یې یو نیم کال ډېر په زغم او صبر انتظار وکړ ؛ خو د تقدیر فیصلې او د حالاتو نه برابرښت وي ونه توانیده چې دا لوړ او مقدس ارمان یې پوره شي.

او کله به یې د ښه وعظ او تقریر کولو هم ارمان کاوه، د شهید استاد یاسر تقبله الله د تقریرونو انداز به یې زیات خوښاو، له همدې امله یې له سړي (ښاري) مجاهدینو سره خپل نوم یاسر کېښود.

خاطرې اوآندونه

د شهیدانو ییا خاصکر د مدرسې د طالبانو د ایثار، فداکاری او شهامت کیسې هم ډېرې وي ؛ خو دلته د شهید عکرمه تقبله الله یو دوه لنډې خاطرې لیکو:

د شهید عکرمه تقبله الله له شهادت سره زیاته مینه وه، او د روژې په هره شپه کې به یې ویل : دا اختر حورو سره تیر کړم ډېر خوند به وکړي

یو ملګري یې وایي : په همدغې شپه یې ځانته د خاورو نه بالښت جوړ کړ او سر یې وروباندې کېښوده او پرېواته.

په دې کې یوه ملګري وروباندې غږ کړل : یاسره! شهید نشې تا خو سر له اوسه ځانته د لحد بالښت جوړ کړ؟

ده په داسې انداز ورته وویل لکه له خپل شهادته چې خبر وي " وی سبا شهید کیږم کنه "

او له عملیاتو نه، تقریبا شپږ ساعته وړاندې د ماسپښین له لمانځه وروسته نږدې یو ساعت یې، په دعا کې په چیغو چیغو ژړل، او الله تعالی نه یې د شهادت او قبولیت غوښتنه کوله.

د مدرسې یو استاد یې کیسه کوي، چې شهید عکرمه تقبله الله به هیڅ کله د تهجد لمونځ نه قضا کاوه، د تقوا اثار ورکې له ورایه ښکاربدل او مابه له خپلو درسونو سره سره ده ته لږ خارجي فکري تربیوي او ... درسونه هم ویلې ؛ یوه ورځ یې راته ویل: مولوي صیب! دا درسونه خو مې سم نه زده کیږي او ته دومره راسره تکلیف یې دابه سنګه شي؟!

ما ورته کړل: بس خپل کوښښ کوه زه په خدای ډېر امید درته لرم، د دواړو سترګې سره له اوښکو رادکې شوې...

شهادت یې

شهید عکرمه تقبله الله د خپلې زړورتیا، بیداري، اخلاص، د مشرانو اعتماد او د خپل زیات اصرار له امله، د کابل ښار د چریکي مجاهدینو په سرې ګروپ کې شامل شو.

له شهادة نه تقریبا درې اونۍ وړاندې یې یو خوب لیدلی و، او ما (لیکوال) ته یې په ډېره خوشالۍ سره وویلې ، وی زه یم او زمونږ یو بل ملګری هلال یې، هغه راته مخکې وي او زه ورپسې، یوې ډېرې ښایسته مانۍ او قصر ته ورسیږو، چې ګورو رسول الله صلی الله علیه وسلم هم له دې ښکلې راووزي.

له دواړو سره له سترې مشې ووسته ماته ووایي :

ته عکرمه یې؟

زه ورته ووایم : هو! نو بیا راته ووایي : رازئ دننه! ....

نو ما ورته کړل: یاسرجانه! راته شهید نشي؟

نو په خپل خاص عاجزانه انداز یې راته وویل:

نا مولوي صیب! دومره به کله بختور یم!

زما هلته له ځان سره دایقین شو چې شهید کیږي ؛ رسول الله غوښتی ؛ خو د دومره زر شهادت او د قبولیت یې ما فکر نه کاوه.

خو د ځښتن تعالی خوښه وه دغه نازولی، د اخلاقو، تقوا او ایثار دنګ منار په کال ۱۴۴۱ هـ ق کال د رمضان المبارک د میاشتې ۲۴ نېټه، د یکشنبې په ورځ د مازدیګر له لمانځه ووسته، د هېواد د پلازمېنې کابل په چهار اسیاب ولسوالۍ کې په یوه مخامخ چریکي جنګ کې په داسې حال کې، چې توله ورځ یې د الله تعالی لپاره وچې شوندې او روژه په خوله وه شهید شو. نحسبه کذالک والله حسیبه

د شهید عکرمه تقبله الله د ایثار او دښې قربانۍ له امله په همدې غزا کې، الله تعالی د دښمن په زړه کې درې نور ملګري، د دښمن له منګولو، کلکې محاصرې او نیولو وژغورل.

په جهاد کې زمور اخلاق

نصرت او ملاتړ کول

پنځمه برخه

■ لیکوال: محمود محمد الخزندار

■ ژباړه: احمدحمزه

«د خپل ظالم او مظلوم ورور مرسته وکړه ...!!»

په مسلمانانو کې دېر حاجتمند، غمجن ، مظلوم او په زړونو زخمي خلک شته!! چې دومره څوک یې نه دي پیدا کړي چې د هغوی درګاه وروټکوي یا د هغوی دحال پوښتنه وکړي او د غم په لړي کولو کې ورسره مرسته وکړي یعني هغوی کې د (نصرت کولو) خصلت او شعور وي.

نصرت د ایماني غیرت په هغه معنا اخلو چې مسلمان د خپل مستضعف (کمزوري) ورور څخه د ظلم مخنیوي لپاره ملاتړ وکړي یا هغه ته د مرستې لاس ور اوږد کړي. څومره چې ته دغه خصلت په ورځني ژوند کې عملي کوي، هغومره به ته د تېري کوونکو او کافرانو په مقابله کې د جهاد بلونکو ته منونکی او لیواله جوړ شې!

د ایماني وروروليِ لپاره نصرت (ملاتړ) په هغه پور دی، نصرت کوونکی یا له نصرت څخه غاړه غړوونکی دواړه خپله ثمره دنیا او آخرت کې ویني او خپله جزاء یا اجر به ورته رسېږي.ځنګه چې د پېغمبر صلی الله علیه وسلم په وینا کې راځي: «مَا مِنَ امْرِئٍ يَخْذُلُ امْرَأً مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ تُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ وَيُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ، إِلَّا خَذَلَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ، وَمَا مِنَ امْرِئٍ يَنْصُرُ مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ يُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ وَيُنْتَهَكُ فِيهِ مِنْ حُرْمَتِهِ، إِلَّا نَصَرَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ نُصْرَتَهُ» مسند أحمد ٤/ ٣٠.

هغه سړی چې مسلمان سړی پداسې ځای کې پرېږدي (ملاتړ یې ونه کړي) چې د هغه عزت ته پکې سپکاوی کېږي، ناموس یې پکې یې پته کېږي، مګر الله تعالی به یې داسې موقع باندې ذلیله کړي چې هغه هلته خپل نصرت خوښوي او هیڅ یو سړی چې د بل مسلمان سړي پداسې ځای کې مرسته وکړي چې د هغه ناموس پکې یې پته کېږي او عزت ته یې سپکاوی کېږي، مګر الله تعالی به یې داسې ځای نصرت وکړي چې هلته هغه خپل ځان لپاره نصرت خوښوي.

پېغمبر صلی الله علیه وسلم مورِ ته د اووه شیانو امر کړی چې یو پکې د مظلوم سړي مرسته کول دي. د هغې متن په دې ډول دی: «أمرنا النبي - صلى الله عليه وسلم - بسبع، ونهانا عن سبع، فذكر عيادة المريض، واتباع الجنائز، وتشميت العاطس، ورد السلام، ونصر المظلوم، وإجابة الداعي، وإبرار القسم» صحيح البخاري - كتاب المظالم/الحديث ٢٤٤٥) مورِ ته نبي علیه السلام د اوه شیانو امر او له اوه څخه منعه کړې: نو هغه دا شیان ذکر کړل: د مریض پوښتنه، په جنازو کې ګډون کول، پرنجي کوونکي ته یرحمک الله ویل، د سلام جواب ورکول ، د مظلوم مدد کول، د بلنې قبلول او د قسم پوره کول.

ابن الجوزي رحمه الله داسې ګڼي چې په ظلم کې تر نورو معصیتونو ګناه ډېره ده هغه پدې خبره دلیل دا وایي:چې ډېری وخت ظلم په هغه چا کیږي چې هغه د بریا او مقابلې توان نه لري. دمسلمان شان دا نه ده چې د هغه خپل ورور باندې کیدونکي ظلم خوشاله شي او یا خپل ورور څخه د ظالم په لاس لوټلو وخت کې مرسته وسپموي ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم په فرمایل: «**المسلم أخو المسلم، لايظلمه ولا يُسلمه، ومَن كان في حاجة أخيه كان الله في حاجته، ومن فرَّج عن مسلم كربة فرج الله عنه كربة من كربات يوم القيامة، ومن ستر مسلمًا ستره الله يوم القيامة**». مسلمان د بل مسلمان ورور دی په هغه نه ظلم کوي، نه یې (دښمن) ته پرېږدي او څوک چې د خپل ورور حاجت پوره کړي الله تعالی به د هغه حاجت پوره کوي او څوک چې مسلمان له مصیبته خلاص کړي ، الله تعالی به له هغه څخه دقیامت د ورځې پیتې او مصیبتونه لرې کړي او څوک چې په خپل مسلمان پرده واچوي، د قیامت په ورځ به الله تعالی د هغه پرده وکړي.

نو آیا ته لدې وروسته هم خپل مسلمان ورور پرېږدي چې مصیبت کې ګیر وي ترڅو ذلیله شي او که نه ستا په رګونو کې وینې جوش کوي، هغې پورې تاته خوب نه درځي چې په حیله بوله هڅه دې له خپل ورور څخه ظلم دفع کړی نه وي؟!

د جاهلیت دور خلکوبه هم په خیر او شر کې د یو بل لاسنیوی کاوه، اسلام وغوښتل چې دا خصلت پدوی کې دخیر لپاره پاتې شي، خو باید نوي مفهوم سره وي: نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**انصُرْ أخاك ظالمًا أو مظلومًا.، فقال رجل: يا رسول الله، أنصره إذا كان مظلومًا، أفرأيت إذا كان ظالماً كيف أنصره؟ قال: تحجزه - أو تمنعه - من الظلم فإن ذلك نصره**» (صحيح البخاري - كتاب الإكراه الحديث ٦٩٥٢). د خپل ورور ، ظالم وي که مظلم مرسته وکړه نو سړي وویل: اې پیغمبره زه خو به یې مرسته وکوم چې کله په هغه ظلم کیږي ، ما پدې پوه کړه چې کله هغه ظالم وي څنګه یې مرسته وکړم؟ هغه وویل: ته به هغه له ظلم څخه منعه کوې؛ په حقیقت کې همدا د هغه سره کومک کول دي. نو که ته دخپل قام ، خپلوانو او قبیلې نصرت کوې او هغوی په هر ډول وسائلو سره له کوم مسلمان سره له ظلم څخه منعه کوې؛ هغه که له دوی څخه وي، یا نور څوک وي، همدا د دوی نصرت کول دي؛ خو لدې پرته دچا مرسته هغه کرغېړنه عصبیت پالنه او قوم پرستي ده چې موږ ته یې په پرېښودلو امر شوی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدې کې عصبیت پالونکی له هلاکېدونکي اوښ سره تشبیه کړی، فرمایي: «**مَنْ نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الْحَقِّ، فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي رُدِّيَ، فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ**»، څوک چې په ناحقه د خپل قوم مرسته وکړي، د هغه اوښ په ځېر دی چې څاه کې غورځېدلی وي؛ بیا هغه په لکۍ سره راویستل کیږي. هغه سړی چې دخپل مسلمان ورور مرسته په الفاظو، په سفارش او یا د خیر په یوې اشارې سره کولای شي، که چېرې له خپل قدرت سره یې دهغه نصرت ونه کړ او په خپلو سترګو یې ذلت وینې، د قیامت په ورځ به الله تعالی د ټول مخلوق په وړاندې هغه ته د شرمندګۍ جامه ورواغوندي ، ځکه چې هغه دخپل ورور په نصرت کولو او له هغه څخه په ظلم لرې کولو کې ناغېړي کړې، دغه ذلت په اړه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: " **مَنْ أُذِلَّ عِنْدَهُ مُؤْمِنٌ فَلَمْ يَنْصُرْهُ، وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يَنْصُرَهُ أَذَلَّهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ** " مسند أحمد ط الرسالة (٢٥/ ٣٦١) هغه څوک چې په مخکې یې مؤمن ذلیله شي او هغه یې ملاتړ ونه کړي او په ملاتړ کولو یې قادر هم وي، د قیامت په ورځ به یې الله تعالی د ټول مخلوق په وړاندې ذلیله کړي.

نو لازمه ده چې هر دعوت (بلنې) ته برجسته د نصرت په خصلت پاخه خلک موجود وي کنه بیا به هیڅکله هغه دعوت ژوندی پاتې نه شي، ترټولو ادنی نصرت کول دیو چا ملاتړ کولو سره وي او ستر نصرت یې په جهاد سره کیږي. کله چې رسول الله صلی الله علیه

وسلم د حج په موسمونو کې خپل دعوت وړاندې کوي نو هغه فرمايي: «مَن يُؤويني؟ مَن ينصرني؟» څوک به ماته پناه راکړي؟ څوک به مې ملاتړ وکړي؟ کله چې د عقبې بيعت وشو، دنصرت او ملاتړ شرط ورسره و: نو هغه وفرمايل: «... **وأسألكم لنفسي ولأصحابي أن تُؤوني، وتنصروني، وتمنعونا مما منعتم منه أنفسكم**».زه تاسې څخه خپل خان او ملګرو لپاره مې غوښتنه کوم چې تاسې موږ ته ځای راکړئ، ملاتړ مو وکړئ او له هغه څه نه موږ منعه کړئ چې تاسې ترې خپل ځانونه منعه کوئ. تردې چې ورقه بن نوفل هم د نبوت په لومړيو کې دنصرت په اړه وايي: (**وإن يُدركني يومك أنصُرْكَ نصرًا مؤزرًا**) که چېرې ستا په وخت کې زه ژوندی وم ، نو په کلکه به دې ملاتړ کوم.

الله تعالى پدې قادر ده چې دخپل پيغمبر مرسته وکړي مګر مؤمنانو ته يې د نصرت کولو برخه پرېښې چې د هغوی ملاتړ وکړي چې بيا له هغوی څخه ددې پوښتنه کيږي او اجر به پرې ورکول کيږي. الله تعالى فرمايي: {... **هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ**} [الأنفال: ٦٢] هماغه ذات دی چې په خپله مرسته او د مؤمنانو په وسيله يې ستا ملاتړ وکړ. او کامياب هغه دي چې{ايمان يې راوړی په (محمد ص او دده ملاتړ او مرسته وکړي ...} [الأعراف: ١٥٧].

د مؤمن لپاره روا ده چې د نصرت غوښتلو لپاره دعا وکړي څنګه چې حديث دی: «ربِّ أعنِّي ولاتُعِن عليَّ، وانصرني ولا تنصر علي، وامكر لي ولا تمكر علي، واهدني ويسِّر الهدى إلي، وانصرني على من بغى علي» زما ربه ما ته د (ښه عبادت) توفيق راکړي او په ما باندې (شيطان) مه غالبوه چې (له عبادته مې منعه کړي)، زما ملاتړ وکړه او بل څوک په ما مه بريمن کوه ، ما ته (د دښمن په دفع کولو کې) تدبير وکړه، پر ما د دښمن تدبير مه برابروه، ماته لارښوونه وکړه او لارې راته اسانه کړه، پرما تېرې کوونکو باندې زما مرسته وکړه.

خو يواځې په دعا سره دا کومک لدې وجې نه دی چې زه پکې نه يم بلکې دا ستا د تسخير لپاره دی چې ته په ايماني قوت سره خپل مسئوليت اداء کړې او په حق غيرت وکړې اما ته پوهيږې چې د ارتيا په وخت کې ملګرې پرېښودل د منافقينو کار ده، الله تعالى يې په اړه فرمايي: {**لَئِنْ أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِن قُوتِلُوا لَا يَنصُرُونَهُمْ ...**} [الحشر: ١٢]. که هغوی [صحابه] ووېستلی شول، دوی [منافقان] به له هغو سره هيڅکله ونه وځي، او که هغوی سره جنګ وشو نو دوی به هيڅکله دهغوی مرسته ونه کړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغو کسانو چې په لاړو کې کښې دا شرط کړې چې د کيناستلو تيکس اداء کړي ، پدې دول چې هغوی د داسې څه شاهد وي چې دوی ته پکې د مداخلې او واجب اداء کولو مسئوليت متوجه کړي. نو دوی ته وايي: «**إن أبيتم إلا أن تحلسوا فاهدوا السبيل، وردُّوا السلام، وأعينوا المظلوم**» که چېرته تاسې نه وئ مګر کيناستلئ نو خلکو ته لاره وښيئ، د سلام ځواب ووايئ او د مظلوم مرسته وکړئ!

د خپل مسلمان ورور په دنيا کې خاصکر چې هغه غائب وي نصرت او مرسته کول، چې چاپلوسي پکې نه وي، د ربښتينولي عواطف پکې څرګند وي او الله تعالى لپاره يې نيت خالص وي؛ د هغې ميوه دا وي چې الله تعالى به په دنيا کې دده ملاتړ پيدا کړي او آخرت کې به خپله دده ملګری وي، څنګه چې حديث کې راځي: «**من نصر أخاه بظهر الغيب، نصره الله في الدنيا والآخرة**» څوک چې د خپل ورور په غياب کې مرسته وکړي، الله تعالى به يې دنيا او آخرت کې نصرت وکړي.

بيا د نصرت کولو دپر دولونه دي، پدې کې يوځوک د امير له ضرره بچ کول، ځکه چې د پاچا او د واکمن ضرر سخت وي، نصيحت کوونکی يې لږ وي او چاپلوسان يې دپر وي، نو حق د غوره مالي او چاپلوسي په منځ کې

ورک شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغو کسانو چې په ظلم کې دوی سره مرسته کوي، خپل برائت اعلانوي چې دخپل ځان او خواهشاتو له وجې هغوی له ظلم څخه نه منع کوي. دا معنا د هغه صلی الله علیه وسلم پدې قول کې راغلې: **«إنه ستكون بعدي أمراء، من صدّقهم بكذبهم، وأعانهم على ظلمهم، فليس مني وليست منه، وليس بوارد علي الحوض، ومن لم يصدقهم بكذبهم، ولم يعنهم على ظلمهم فهو مني وأنا منه، وهو وارد علي الحوض»**. له ما څخه وروسته به ځینې امیران داسې وي چې چا د هغوی دروغ رښتیا وګڼل، او په ظلم کې یې ورسره مرسته وکړه نو هغه زما څخه نه دي، نه زما په حوض (کوثر) راتلای شي. هغه څوک چې دوی په دروغو کې رښتینې نه ګڼي او د دوی په ظلم کې ورسره مرسته نه کوي نو هغه له ما څخه او زه له هغه څخه یم او هغه زما په حوض راتلای شي.

کله چې نصرت کول داسې خصلت وي چې نامسلمان یې هم غواړي د کمزورو مرسته وکړي نو مسلمانان په هغې کې باید ډیر اولس او وړاندې وي، له همدې وجې عمر بن العاص رضي الله عنه د روم خلک په هغو خصلتونو نښه یادول چې دده پکې خوښ شوي و: هغه ویل. "په دوی کې ځلور خصلتونه دي. دوی د بلاء او امتحان په وخت کې زیات نرم خلک دي، له مصیبت وروسته ژر بیدارېدونکي، له حملې وروسته چابک خوابوونکي او له مسکین ، یتیم او ضعیف سره غوره چلند کوونکي دي او پنځم یې ډېر ښایسته صفت دی: **وأمنعهم من ظلم الملوك**. د پاچایانو له ظلم څخه ډېر منعه کوونکي دي.

که د جاهلیت د زمانې په طریقه، په باطله د یو چا ملاتړ کول و، قوم پرستي کول و، په ظلم کې د یو چا سره کومک و، نو خامخا به هغه د الله تعالی غضب (قهر) لاندې وي، ځنګه چې حدیث کې راځي- **«من أعان على خصومة بظلم - أو يعين على ظلم - لم يزل في سخط الله حتى ينزع»** څوک چې په یو شخړه کې په ظلم سره دچا لاسنیوی وکړي، ترهغې به د الله تعالی په قهر کې وي څو چې دی له ظلم څخه لاس واخلي.

نو په هر وخت کې د حق ملاتړی اوسه که دا نه کوې نو بیا د جهاد د رتبې طمعه مه کوه او نه د عزت (مرګ)شهادت غواړه!

ددې فصل لنډې او ارزښتناکې:

- د یې وسه مسلمان ملاتړ کولو ته هر وخت چمتو اوسېدل او دا د اخوت (وروروالی) پلوه باندې پور دی.
- د مرستندوی سړي به الله تعالی داسې ځای کې مرسته کوي چې هغه یې خپل ځان لپاره خوښوي.
- ظلم اکثره وخت په یې وسه او یې کسه سړي کیږي نو آیا ته هغه دښمنانو ته پرېږدې او دلیله کېدل یې غواړې؟
- جاهلیت دور حلکو هم دیو بل ملاتړ کاوه نو مسلمان ته د بل مسلمان نصرت به څنګه وي؟
- دعاګانې د نصرت سبب ګرځي کله چې څوک د یو چا لپاره دعا ولیږي.
- مؤمن ته روا ده چې خپل رب څخه د کومک غوښتلو دعا وکړي.
- نصرت هغه وخت واجبیږي چې ظلم په خپلو سترګو وګوري یا ورته معلومه شي.
- حقیقي او سپیڅلی نصرت هغه دی چې خپل ورور سره د هغه په غیاب کې مرسته وکړي.
- واکمن له ظلم څخه منعه کول د مرستې کولو ترټولو لازمي ډول ده.
- هغه څه چې عمرو بن العاص په روم کې خوښ ګڼل هغه: اچایان له ظلم څخه منع کول و.
- په قوم پرستي او په باطله نصرت کول د الله تعالی غوسه راولي.

د اسلام غزوات او سرلیا

نجران ته د خالدبن ولید سریه !

❖ په تیرپسې
❖ ابوظهیر

دهجرت په لسم کال ربیع الثاني یا جمادی الاولی کې رسول الله صلی الله علیه وسلم خالدبن ولیدرضي الله عنه دیوې سریې مشرمقررکړ او دنجران او دهغه شاوخوا سیمو ته یې ولیږه اوورته ته حکم یې وکړ چې :

دقتال(جهاد) خخه وړاندې دري خله داسلام قبلولو دعوت ورکړه! که هغوی دعوت ومانه،نوتاسو هم دهغوی دعوت قبول کړئ اوکه هغوی دعوت قبول نکړ او انکار یې وکړیا ورسره قتال وکړئ

کله چې خالدبن ولید نجران ته ورسید او دهغه خای خلکو ته یې داسلام قبلولودعوت ورکړ،له چون چراپرته تولوسمعاً اوطاعةً اسلام قبول کړ،خالدبن ولیدهم هلته تم شو اواسلام راورونکوته داسلامي تعلیماتو بنودل پیل کړل،اوهم یې دیولیک له لارې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دپوره جریان خبر ورکړ، په خواب کې یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیکل:دنجران بني حارث بنی کعب وفد له خان سره کړه اومدیني ته راشئ، درسول الله صلی الله علیه وسلم دحکم سره سم خالد دبني حارث وفد له خان سره کړ اومدیني ته راغی، رسول الله صلی الله اواحترام وکړ اوهلته یې میشت کړل،کله چې هغوی بیرته نجران ته ستنیدل نورسول الله صلی الله علیه وسلم په هغوی باندې قیس بن حصن مشرمقررکړاو دوفدبیرته روانیدو وروسته یې عمروبن حزم ددینې فرایضو،سننواو احکامو دمعلم او دصدقاتو وصولولو عامل په حیث وړواستاوه او هغه ته یې لاندې فرمان ولیکه اوپه لاس یې ورکړ:

هذابَیانٌ مِنَ اللهِ وَرَسُولِه یاأَیُّهَاالذِین اٰمَنُوا اَوفُوا بِالعُقود عَهدٌ مِن مُحَمدالنَّبی رسولِ الله لِعَمروبن حزم حِینَ بعَثَهُ اِلی الیَمن آمره بتَقوَ اللهِ فِی امرِهِ کُلِّه فَاِنَّ الله مَعَ الذِین اتَّقوا والَّذِین هُم مُحسنون وَاَمرهُ اَن یَاخُذَ بالحقِّ کَمَا اَمرهُ الله وان یُبشِر النَّاس بالخیر ویَاْمُرَهُم به ویعلِمَ النَّاس القرآن ویُفَقِّهُم فِیه،وَیَنهی عَنِ النَّاس فَلایَمَسُّ القرآن اِنسانٌ اِلا وَهُوَ طَاهرٌ ویُخبرالنَّاسَ بالذی لَهُم والذی علیهم ویَلِینُ لِلناسِ فی الحق وَیَشتَدُّ علیهم فِی الظُّلمِ فَاِنَّ الله کَرِهَ الظُّلمَ وَنَهَی عَنه فَقَال اَلا لَعنَةُ الله عَلَی الظَّالمین وَیُبشرالنَّاسَ بالجَنة وبِعَمَلِهَا وَیُنذِرَالنَّاس النَّاروَعَمَلَهَا وَیَستَألِفُ النَّاس حتی یَفقَهُوافِی الدِین وَیُعَلِمُ النَّاس مَعَالِمَ الحَجِ وَسُنَّتَهُ وَفَرِیضَتَهُ وَمَا اَمَرَ اللهُ بِه والحجُّ الاکبر،الحجَ

علیه وسلم دبني حارث قبیلي دوفدزیات درناوی یُصَلِّیَ اَحدٌ فی ثوب صَغیرالان اَنّ یکُونَ ثَوباً یُثنَی طَرَفَیه عَلَی عَاتقه وَیَنهَی النَّاس ان یَحتَبی احدٌفی ثوب وَاحد یُفضی بفَرجه اِلَی السَّماءوَیَنهَی اَن یَّعقصَ احدٌشَعرَ رَأسه فی قَفَاهُ وَیَنهی اِذَاکان بَین النَّاس هیجٌ عَنِ الدَّعاء اِلی القبائل والعَشائرولیکن دَعواهم اِلی الله عزّوجل وحده لاشریک له فَمَن لَم یَدعُ اِلی الله ودَعا اِلی االقبائل والعشائرفلیَقطعوابالسَّیف حَتَّی تَکُونَ دَعوَاهُم اِلَی الله وحده لاشریک له وَیأمُر النَّاس بِاسبَاغِ الوُضُوءِ وجوهُهم وَایدیهُم،اِلَی المَرافق وَاَرجلهم الی الکعبین ویمسحون برؤسهم کما امرهم الله وامربالصلاة لِوَقتهاوَاتمَام الرکوع وَالسُّجود والخشوع وَیُغَلس بالصبح وَیُهجِربالهاجرة حین تمیل الشمس وصلاة العصروالشمس فی الارض مدبرةَ والمغرب جین یُقبِل الَّلیل لایؤخرحتی تَبدُوالنجوم فی السماء،والعشاء اَوَّل للیل وَامربالسَّعی اِلی الجُمعَة وَاذانُودیَ لهاوَالغُسل عندالرواح الیهاوامره ان یأخذمن الغنائم خُمسَ الله ما کتب علی المؤمنین فی الصدقة من العقَارعُشرماسقَت العَینُ وَسَقَتِ السَّماءُ وَعَلی مَاسَقَی الغَربُ نصف العشروفی کل عشرین من الابل شاتان وفی کل عشرین اربع شیاه وفی کل اربعین من البقر،بقرة وفی کل ثلاثین من البقرتَبیعٌ

جَذَعٌ اوجَذعةٌ وفی کل اربعین من الغنم سائمةٌ وحدها شاة فانهافریضةُ الله الَّتی اِفترَضَ عَلی المُؤمنین فِی الصدقة فمن زادفهوخیرله وانه من اسلم من یهودی او نَصرانی اسلاماخَالصا من نفسه وَدَانَ بِدین الاسلام فانه من المؤمنین لَه مِثل مالهم وَعلیه وَمن کان علی نصرانیته اویهودیته فانه لایردعنها وعلی کل حَالم ذَکَرٍ او اُنثَی حُرا وَعَبدٍ دینارْوَاف او عِوَضُه ثِیابًا فَمَن ادَّی ذلک فاِنَّ لَه ذِمةُ الله وَذِمَّةَ رَسُولِه وَمَن مَنَعَ ذالک فَاِنَّهُ

الاکبر،والحجُّ الاصغر،هو العمرة وَیَنهَی النَّاس اَن عَدُوْ الله وَلِرَسُولِه وَلِلمُؤمنین جمیعا صَلَواتُ الله عَلَی مُحَمَّد وَالسَّلامُ عَلیه وَرَحمَة الله وَبرکَاتُه (سیرة ابن هشام ۴توک۲۴۱مخ)

بسم الله الرحمان الرحیم

ژ:دا دالله او دهغه درسول فرمان دی،اې دایمان خاوندانو!خپلې وعدې پوره کړئ،دا فرمان درسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا دعمروبن حزم ته ورکول شوچې کله هغه یې دیمن لورته دعامل په توګه استاوه،ورته یې حکم وکړچې په تولو امورو کې به تقوا اوپرهیزګاری ته پام لرئ،په تحقیق سره الله تعالی له پرهیزګارانواونیکانوسره دی،او هغه ته یې حکم وکړچې حق کلک ونیسي،خنګ چې دالله تعالی حکم دی اوخلکوته دخیرحکم وکړئ اوورته دخیرزیري واورویئ،اوخلکوته دعظیم الشان قرآن تعلیم ورکړئ،او دهغه په معانیوباندې دپوهیدو طریقه ور ورښایئ، اوخلک له دې منع کړئ چې هیڅ یوتن دي قرآن پاک ته دپاکی پرته لاس نه وروړي،اوخلک دي دهغه له منافعو اومضارڅخه خبرکړي شي، په حق اونیغه لارباندې تللوکې دي له خلکوسره نرمي اودظلم کولو پرمهال پرهغوی سختي کول،په تحقیق سره الله تعالی ظلم حرام ګرځولی دی او ورڅخه یې منع کړیده،خنګه چې دهغه ارشاددی:چې لعنت دي وي دالله په ظالمانواوخلکوته دجنست زیري ورکول او دجنت له اعمالوڅخه یې خبرول،او دجنهم څخه یې دارول او دجنهم له اعمالوڅخه یې اګاه کول اوخلک له ځان سره مانوس کول ځوهغوی دین زده کړي شي،اوخلکوته فرایض، سنن،دحج احکام او دعمرې احکام ورښودل او دلمانځه په اړه ورته دابنودل چې هیڅ تن دي د رخت په دومره کوچنی توته کې چې

هغه پخپله شاواخوي لمونځ نکوي مګرداچې هغه دومره اوږده وي چې دواړه اوږې يې پتوي،اوخلک ددا سې کالیو له اغوستومنع کړئ چې ترې داسمان لاندې يې سترعورت ښکاري او ددینه يې منع کړئ چې هیڅ یوتن دي دغاړي لورته دویښتو دوه کوڅې نه جوړوي او له دینه يې منع کړئ کله چې خپلمنځي جنګ وي، نو دقبیلې،کورنۍ،قوم او وطن په نوم دي دکومک او نصرت راغوښتلوغږنکوي بلکې دیو خدای تعالی لورته دي دخلک وبلي اوکوم تن چې دالله تعالی لورته دعوت نه ورکوي،بلکې دقبیلې، کورنۍ،یعني دقوم او وطن لورته خلک بلي دهغوی خټوته په توره ووهئ تردې چې دهغوی ناره د وحده لاشریک له ددین په ملاتړپورته شي یعني دوطن پرستۍ،قبیله پرستۍ له نارې ځخه راوګرزي، اوخلکوته په پوره توګه داوداسه اوپخپل وخت دلمانځه کولو حکم وکړئ په لمانځه کې رکوع اوسجده په پوره خشوع اوخضوع سره کوئ او دسهارلمونځ په غلس (تاریکۍ) کې کوئ، او دماسپښین لمونځ دزوال وروسته کوئ یعني دزوال ځخه مخکې يې مه کوئ،او دمازیګرلمونځ هغه وخت کوئ چې کله لمرپه زمکه باندې خپله ګرمې غورځوي اودغروب په لور درومي او دماښام لمونځ هغه وخت کوئ چې کله شپه راشي ،خودومره تاخیرپکې مه کوئ چې آن ستوري راښکاره شي او دماسخوتن لمونځ دشپې په لومړي ثلث کې کوئ اوکله چې دجمع اذان وشي نوپه بیره مسجدته درومئ او جمعې ته دتګ ځخه وراندې غسل کوئ او داحکم يې ورکړچې په غنیمت مال کې خمس دالله تعالی لپاره وباسئ او دمسلمانانودزمکې دحاصل نه صدقه اخلئ کومه زمکه چې دچینې یادباران په اوبو سیرابه کېږي په هغه کې عشر (دحاصل لسمه) واجب دی اوکومه زمکه چې دکوهي په اوبو خړوبېږي،په هغه کې نصف العشر (یعني دحاصل شلمه) واجب دی اوپه لس اوښانوکې دوه اوزې،په شل اوښانوکې څلور اوزې واجب دي،اوپه څلویښت غویانوکې یوغویه اوپه دیرشوغویانوکې یوتبیع،اوپه څلویښتو اوزوکې یوه اوزه زکات کې ورکول واجب دي دادالله فرض دي، چې دایمان په خاوندانو يې فرض کړي دي اوځوک چې له فریضې نه زیات ورکړي نوهغه،دهغه لپاره غوره ده، اوکوم یهودي یانصراني چې دښتینې زړه ځخه ایمان او اسلام قبول کړي هغه دمؤمنانوځخه دی او دهغه حقوق او احکام هغه دي کوم چې دمسلمانانودي،اوځوک چې پخپل یهودیت او نصرانیت باندې ولاړپاته شي او داسلامي حکومت رعایا اوسیدل اومني نارینه وي،میرمن وي،ازادوي یاغلام ،په هربالغ باندې جزیه ورکول دي یا دهغې عوض کې کالي ورکول پر هغه لازمي دي کوم تن چې جزیه اداء کړي هغه دالله او دهغه درسول په ذمه داري کې دی یعني دهغه ځان، مال،او ابرو ټول محفوظ دي اوکوم تن چې دجزیې له ورکولو ځخه انکار وکړ هغه دالله،دهغه درسول او دټولو مؤمنانو دښمن دی د الله تعالی صلاتوسلام رحمتونه اوبرکتونه دي وي په محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې ...

پای

د مورچل دارالافتاء

دجنګ په لمړۍ کربنو کې دمجاهدینو لمونځونه!

الاستفتاء محترم مفتي صاحب ! مورږ ددښمن په وړاندي خط کې یو اوخط په دروکلیو کې دی ،اوس زمورږ نیت دادی چې ددتشکیل موده په همدغه خط کې تیروو اوزمورږ دتشکیل موده یوه میاشت ده ، اوس مورږ لمونځونه پوره کوواوکه قصر ؟ یومجاهد.

الجواب حامدا ومصلیا وبعد :که تاسو په یوه کلي کې همدغه پوره تشکیل تیروئ بیامقیم ګڼل کیدلای شئ! اوکه په همدغه درو کلیوکې کله په یوه اوکله په بل کلي کې یاست بیامو نیت داقامت صحت نه لري بلکه تاسوبه قصر یعني دسفر لمونځ کوئ!

قال العلامة الحصكفي رح : فيقصر ان نوى الاقامة في اقل منه اى في نصف شهر اونوى فيه لكن في غيرصالح كنحوجزيرة اونوى فيه لكن بموضعين مستقلين كمكة ومنى ،فلودخل الحاج مكة ايام العشر لم تصح نيته لانه يخرج الى منى وعرفة فصاركنية الاقامة في غيرموضعها.

وفي ردالمحتار ۵۸۳\۱ ولافرق بين المصرين والقريتين والمصروالقرية ... وفيه : والحاصل ان شروط الاتمام ستة النية .... واتحاد الموضع الخ

والله تعالى اعلم

په سورة الفاتحة دبیماریوعلاج ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! په سورة الفاتحة باندي استشفاء يعني دم کول شرعا کوم ثبوت لري اوکنه؟ اوکه ثبوت لري نوبیا کومه ځانګړي طریقه لري اوکه ځرنګه ؟ داپوښتنه ځکه کوم چې په دې وقت کې دکرونا ناروغي ډیره ده ،زیاتره دسینې تکلیف ،تبه ،اودبدن سخت دردونه په کې وي اوطبي علاج نیمګړی اودوا یاواکسین یې تراوسه نه دی موندل شوی .عبدالله.

الجواب حامدا ومصلیا وبعد :سورة الفاتحة دقران کریم هغه سورة ده چې دبې شمیره ځانګړتیاو ترڅنګ یې یوه داهم ده چې دډیرو بیماریو بوکامل علاج وړاندي کېږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم سورة الفاتحة ته - رقية - ويلي .يعني ددم سورة په تفاسیرو کې ددې سورة له ګڼ شمیرنومونوځخه یونوم شفاء هم ذکرشوی دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ځخه په سورة الفاتحة باندي استشفاء یادم کول تائیدا ثابت دي.

همداراز له صحابه وڅخه په سورة الفاتحة باندي دم کول هم په صحيح سندونونقل شوي دي.

له امام احمدبن حنبل - رح - څخه نقل شوي چې هغه به هروقت چې اوبه څښلې نولمړی به يې سورة الفاتحة وربانديې لوسنله اوبيابه يې هغه اوبه څښلې.

ابن القيم - رح - فرمايې :زه په مکه مکرمة کې بيمار شوم ،نه طبيب و اونه دواء بس همدغه الحمدلله به مې دزمزم په اوبوڅوڅله ويله اوبيا به مې څښلې ،الله تعالى به ورسره پوره شفاء راکړه ، همدغه عمل مې دهرډول بيماريو اودردونو په مهال سرته رسول اوپه دې ډول مې په سورة الفاتحة سره زښته زياته نفع اخسته . زادالمعاد عندالكلام على الفاتحة . ومدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين (١/ ٧٨-١٨٠-(

علماؤ ليکلي دي : چې سورة الفاتحة دزمزم په اوبو يابه عامو پاکو اوبوباندي اوه ځله ويل کيږي اوبيابه اوبوچف کيږي اوله خوراک نه مخ کې يعني په تشه خواڅښل کيږي ،داعمل تراوو ورځو پوري جاري سائل ضروري اويوځل سهار اوبل ځل ماشام دواړه وخته له خوراک نه وراندي.

البته په دې شرط چې عقيده صحيح اويقين کامل وي .کماذکره ابن القيم وغيره رح.

همداراز که ددې استشفاء په مهال آيات الشفاء وليکل شي ياهغه هم په اوبو ورسره دم کړل شي نوفائده به يې ډيره وي ان شاء الله تعالى . اوآيات الشفاء هغه شپږ آيتونه دي چې دشفاء لفظ په کې صراحة راغلی دی ،په تفسيرروح المعاني اوتورو معتمدو کتابونوکې يې فوائدباذن الله تعالى ليکل شوي دي اوهغه دادي:

] ويشف صدور قوم مؤمنين]سورة التوبة الاية ١٤. [وشفاء لما فى الصدور [سورة يونس الاية ٥٧ [وننزل من القران ماهو شفاء ورحمة للمؤمنين {سورة الاسراء الآية ٨٢} يخرج من بطونها شراب مختلف الوانه فيه شفاء للناس{ سورة النحل الآية ٦٩ } واذا مرضت فهو يشفين {سورة الشعراء الآية ٨٠ } قل هو للذين آمنوا هدى وشفاء {سورة فصلت الآية ٤٤

تفسيرالمنير للزحيلي : ١٥\١٥٥ وغيره..

كتبه مفتى ابو حامد عفى عنه

جنګي جنایتونه (مې)

سید سعید

د ۲۰۲۰ز، کال دمې دمیاشتې په ۲مه نیټه د بلخ ولایت د چمتال ولسوالۍ په میرقاسم کلي کې حکومتي عسکرو یو پلار او دوه زامن شهیدان کړي دي.

دمې په ۲مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ دحیدراباد په سیمه کې دحکومتي خواکونو په بمبار کې یو ماشوم شهید او یو بل زخمي شوی دی.

دمې په ۳مه دفاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ د نودرې او بوري په سیموکې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزوکې څلور تنه ملکي وګړي شهیدان او زخمیان شوي دي.

د مې په ۴مه د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ د ینګي په سیمه کې خایې عسکرو یو خوان کلیوال شهید کړی دی.

د مې په ۴مه دهلمند ولایت دنادعلي ولسوالۍ دلوی مانده او باباجي دباوړیو سیمو کې حکومتي عسکرو ګڼ هیوادوال وهلي، درې تنه یې شهیدان کړي او دوه کسان یې بندیان کړي دي. د خایې خلکو په وینا ټول زیانمن شوي کسان ملکي وګړي دي.

د مې په ۸مه دغزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په نظرخان او نجم الدین کلیو باندې داشغالګرو په بمبار کې یوولس تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د مې په ۹مه د غور ولایت مرکز فیروزکوه ښار کې پولیسو په هغو بې روزګاره مظاهره کوونکو ډزې کړې چې دحکومت دفساد پر ضد یې احتجاج کاوه، په دې ډزو کې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او اولس تنه ټپیان شوي دي.

د مې په ۱۰مه د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ د شیوان اوشیخ لالا په سیموکې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې دماشوماتو په ګډون شپږ تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د مې په ۱۰مه د میدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ په سلطانخیلو او اسیا زرک خپلو سیمو کې دحکومتي خواکونو دهاوان په بریدونو کې یوه میرمن او یو سړی شهیدان شوي او دوې نښځې ټپیاني شوې دي.

د مې په ۱۰مه د بلخ ولایت د بلخ ولسوالۍ په مربوطاتو کې حکومتي قواوو څلور تنه بزګران شهیدان

او ټپيان کړي، د خايې خلکو په وينا يادشوي کسان په داسي حال کې په نښه شوي چې د روژې له امله يې دشپې له خوا په خپلو ګروندو کې اوبه لګولې.

د مې په ۱۱مه د بلخ ولايت د خاص بلخ ولسوالۍ په غونډانو سيمه کې اشغالګرو د قومي مشرانو پر يوه غونډه بمبار کړی، په دغه بمبار کې نهه تنه قومي مخور شهيدان او اووه تنه نور ټپيان شوي دي. ددې برید په غبرګون کې خلکو لاريون تر سره کړ، خلکو ويل چې ددې پيښې عاملين دې محاکمه شي او دهستوګۍ پر سيمو دې دورته بريدونو مخه ونيول شي، خو لاريون لا پای ته نه و، رسيدلی چې خايې پوليسو پر مظاهره کوونکو ډزې وکړې، يو تن يې شهيد او پنځه نفره لاريون کوونکي يې ژوبل کړل.

دمې په ۱۲مه د زابل ولايت د شاجوی ولسوالۍ د حسن کاريز په سيمه کې د داخلي عسکرو دهاوان يوه مرمۍ دکوچيانو پر کيږدۍ لګېدلې چې له امله يې پنځه تنه ماشومان او ميرمنې شهيدان شوي او دوه نارينه ژوبل شوي دي.

د مې په ۱۵مه د فارياب ولايت د قيصار ولسوالۍ د نودرې په سيمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې شپږ تنه ملکي وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

د مې په ۱۷مه د لغمان ولايت دعليشنګ ولسوالۍ په قلعه کوچيان او کونجکي سيمو کې حکومتي عسکرو دعلمياتو په مهال دوه تنه ولسي-وګړي له خپلو کورونو راايستلي او بيا يې شهيدان کړي دي.

د مې په ۱۸مه د غزني ولايت د ګيرو ولسوالۍ په پني کلي کې ګډو خواکونو د (CHC) په نوم يوصحي کلينيک بمبار کړی،چې له کبله يې د کلينيک طبي وسايل، دواګاني او نور اړونده توکي له منځه تللي دي.

د مې په ۱۸مه د بلخ ولايت د چمتال ولسوالۍ نوشهر ترکو سيمه کې داشغالګرو او داخلي عسکرو په بمبار کې درې تنه ولسي- وګړي شهيدان شوي او دخلکو کورونو ته زيان رسيدلی دی.

د مې په ۱۹مه د کندز ولايت د چهاردرې ولسوالۍ منګټيپې سيمه کې يرغلګرو او حکومتي قواوو پر يو خايې روغتون برید کړی،ددغه برید له امله په روغتون کې دوه تنه ناروغان شهيدان شوي او دروغتون وداني او تجهيزات زيانمن شوي دي.

د مې په ۱۹مه د کندز ولايت مرکز اړوند عاق مسجد سيمه کې دحکومتي خواکونو په يو برید کې دسيمې مسجد زيانمن شوی دی.

د مې په ۱۹مه د کندز ولايت د علي آباد ولسوالۍ په عمرخيلو سيمه کې ګډو خواکونو په هغې کښتۍ بمبار کړی چې له سيمه ييز سيند څخه يې ملکي وګړي بلې غاړې ته اړول. په يادشوي برید کې د کښتۍ چلونکي په ګډون شپږ تنه ولسي- وګړي شهيدان او اووه تنه ژوبل شوي دي.

د مې په ۱۹مه حکومتي خواکونو دپروان ولايت مرکز مربوط خلازيو سيمه کې دتعليم القران مدرسې په جومات برید کړی،په دغه برید کې اته نفره ولسي- وګړي شهيدان او لس تنه ټپيان شوي دي، برید داسي مهال شوی چې خلک دماښام په لمانځه والړ وو.

د مې په ۲۰مه د جوزجان ولايت د مردیان ولسوالۍ په جنګل اريغ کلي کې دحکومتي خواکونو په بمبار کې دښځو او ماشومانو په ګډون اووه تنه ولسي- وګړي شهيدان شوي دي.

د مې په ۲۰مه دهلمند ولايت دګرشک ولسوالۍ په حيدراباد سيمه کې يو سړی زخمي او دوې ښځې شهيدانې شوې دي.

د مې په ۲۰مه د لوګر ولايت د خوشي ولسوالۍ په سلطانخيلو کلي کې حکومتي خواکونو دچاپې په مهال دکورونو دروازې په بمونو الوزولې، له کورونو يې



قیمتي توکي او نغدي پیسې وړې او د دولت خان آکا په نوم ولسي هیوادوال دوه زامن (عبدالله او رحمت الله) یې دخپل کور په منځ کې شهیدان کړی دي.

د مې په ۲۰مه د بلخ ولایت د خاص بلخ ولسوالۍ په بوکه سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د مې په ۲۰مه د کندز ولایت د خان اباد ولسوالۍ په باسوسو او محفلي سیمو کې حکومتي خواکونو د ولسي خلکو په کورونو بمبار کړی،په دغه بمبار کې څلور ښځې او یو نارینه شهیدان شوي او شپږ تنه ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

دمې په ۲۲مه دلوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ وغجان بازار ته څېرمه داخلي عسکرو یو سپین ږیری شهید کړی دی.

دمې په ۲۲مه د جوزجان ولایت د اقچې او منګجک ولسوالیو کې حکومتي خواکونو دولسي وګړو پر کورونو بمبار کړی او په خانګړې توګه په قره ادک کلي کې د حکومتي عسکرو په بمبار او توپچي ډزو کې ۳۲ کورونه زیانمن شوي او زیاتره شیان او لوازمات پکې سوځیدلي دي.

د مې په ۲۳مه د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په سالاب سیمه کې دحکومتي خواکونو له لوري توغول شوی هاوان پر یو کور لګیدلی چې له امله یې دوه ماشومان شهیدان شوي او دیارلس تنه ټپیان شوي دي.

د مې په ۲۴مه حکومتي عسکرو د غزني ولایت د قرباغ ولسوالۍ په پراو کلي ډیسې توپونه ویشتلي، چې له کبله یې یو کور تخریب شوی، یوماشوم پکې شهید او څلور تنه ژوبل شوي دي.

د مې په ۲۶مه د بادغیس ولایت د سنګ آتش ولسوالۍ د چشمه دوزک په سیمه کې د داخلي عسکرو په یې هدفه ډزو کې درې تنه ماشومان شهیدان شوي دي.

د مې په ۲۷مه د زابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ د ابراهیم خیلو په کښته جعفرو کې د حکومتي خواکونو په بمبار کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان او څلور تنه ماشومان ژوبل شوي دي.

د مې په ۲۷مه د ارزګان ولایت د خاص ارزګان ولسوالۍ په ګرم اب سیمه کې داخلي عسکرو یو طالب العلم شهید کړی دی.

دمې په ۲۷مه د بغلان ولایت د مرکزي بغلان ولسوالۍ په شهر کهنه کې داخلي عسکرو یو خوان کلیوال شهید کړی دی.

د مې په ۳۱مه د تخار ولایت په ینګي کلا ولسوالۍ کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو سړی او یوه میرمن شهیدان شوي او خلکو ته مالي زیانونه اوښتي دي.

د مې په ۳۱مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ د چغري په کلي کې دحکومتي خواکونو د هاوان یوه مرمۍ پر یو کور لګیدلې چې له امله یې درې ماشومان شهیدان شوي دي.

د مې په ۳۱مه د پروان ولایت د سیاه ګرد ولسوالۍ په جوی اختر سیمه کې دحکومتي عسکرو دهشتاددو په ډزو کې درې تنه ماشومان شهیدان او درې نور ټپیان شوي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،ټول افغان ويبپانه ، لراوبر=،نن تکی اسيا=اوبينوا=]

ستاپه راتلو سره تورتم او جهالت شو ختم

محمد مهاجر

ستا په راتلو سره تورتم او جهالت شو ختم
د لات منات هبل بوتانو عبادت شو ختم

تا و دنیا ته له خپل ځان سره رنا را وړله
و تورو زړو ته دې د نور یوه بنکلا راوړله

ستا له اخلاقو انسانانو کې نفرت شو ختم
له تانه مخکې پر دې ځمکه توره شپه خوره وه

ظلم زیاتی او د وحشت درنه څپه خوره وه
د کفر زور د کفر واک او سلطنت شو ختم

ستا وینایست ته دی عاجزه همه جمال د سپوږمی
مثل دې نشته د بنکلا ګرانه په تولـه نړۍ

په صفتو دې د عالم تولـه طاقت شو ختم
پرتا هم کانو او هم شګو، هم شجر کړو سلام

پرتا ګویاؤ انسُ و جن او تول بشر کړو سلام
خیرالأمم یې او پرتا هم نبوت شو ختم

پر مُحَمّدٌ مهاجِر وکړه یو نظر د مینې
دا سې نظر چې یې شي جوړ د زړه پرهر د مینې
ژوندون یې تیر، ژوند یې تول ستا په فرقت شو ختم

و وطن مینه لکه وینه په رګو کې لرم
زخمي تصویر وې و سُبین زړۀ په پرو کې لرم

افغانستانه ! ویرغل خزان شړه ورنه
و اباوی خیال وې سمسور په پسرلو کې لرم

هېواوه وګوره ګلونه وې پټکي کې ساتم
و غرو رغو مات مات اغزي وې په پښو کې لرم

و غرور ونګ ونګ محلونه لرزولی شمه
و وسره اثر و تکبیرونو په نعرو کې لرم

یو روو نیل به فرعوني لښکر ته وګرځیږي
واسې څو اوښکې نازولې په لمبو کې لرم

شکرچي زه و غلامانو مفکرنه یمه
شکرچي نوم و ازادی په لهونو کې لرم

زه وامنم چې پښتني په فرښتو کې نشته
خو نمونې و فرښتو په پښتنو کې لرم

ته سې طالب طبیعت ولوله تمام حریت وی
و غلامانو څخه کرکه په مغزو کې لرم

مفتون که وې لاړ کې شهید شم او پرهر پرهر شم
و الجهاد نعره به تولو پرهرو کې لرم

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامی امارت

د ازادی مجنون

عرفان الله عرفانی

لکه مجنون گرځم نړۍ لټوم
ورکه لما ده ازادی لټوم

د تن جامې مې رقیب وشلولې
څیرې ګرېوان ته مې تنې لټوم

چې په ټپو د جنګ میدان ګرم کړي
ځم په میوند کې ملالی لټوم

اُفق مو توره تاریکی نیولی
په تره میو کې سپوږمی لټوم

د انقلاب له جنګه ستړی نۀ یم
زخمي زړګي ته مې پټې لټوم

د بنار مانۍ مې ځکه نۀ خوښېږي
کوچې د مینې یم کپړدی لټوم

د خپلو اکی ورځې نېږدې ښکارېږي
اوس (عرفاني) ته ښه پګړی لټوم

تریخ انقلاب

مشهود

ډیر خوارہ راته ترخه کړل انقلاب
ورک په ژوند رانه هرڅه کړل انقلاب

په غمونو ، اندیښنو او سلګیو
زړونه سم راته پاخه کړل انقلاب

د هیواد غرونه ، که شاړي دي که دښتي
په سرو وینو یې اوبه کړل انقلاب

خندا ګاني او خوښی راڅني ورکې
مات په اوښکو مو بانه کړل انقلاب

پسرلي مو د خزان سېلی شهید کړل
سره غاټول په مرګ ویده کړل انقلاب

په تنکو غوښو هډونو د اوجود مو
بل اورونه هم ساړه کړل انقلاب

خاموشي ده هغه شور کلي نسته
شهیدان واړه ، زاړه کړل انقلاب

د هرڅه په قدر پوه یې کړو مشهوده
ډیر ترخه راته خوارہ کړل انقلاب

د غربي ښکېلاک په وړاندې د جهاد د بریا راز د قیادت یووالی دی

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal